مجــــله علـمــی پـــوهنتون ســــلام
https://salam.edu.af/magazine/14

# په اسلام کې دښځې سیاسي حقوق

**دکتور عبدالباقی امین[1]**

## چکیده

دغه لیکنه دښځو سیاسی حقوق په عمومی ټکو کی تر غور لاندی نیسی، په پیل کې دسیاست او د سیاسي حقوقو اصطلاح تعریف شوې ده، وروسته داپوښتنه تر غور لاندی نیول شوی چه آیا د سیاسي حقوقو اصطلاح سمه ده او که دسیاسی مکلفیتونو اصطلاح بهتره ده؟ له دی وروسته د سیاسي حقوقو په پښتو ژبه د بحثونو لنډیزونه سلام سال دوم، شماره سوم و چهارم، حمل - حوت ۱۳۹۱ ه ش 230 (مکلفیتونو) شکلونه او بنې بیان کړې شوی دی او په هغه کې دښځو د ونډې اخیستلو شرعي دلایل بیان شوی دی، بیا ده (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) او نصیحت کولو په هکله بحث شوی دی او دا خبره بیان شوې، چه امر بالمعروف دژوندانه ټولو خواوو ته شاملیږی، او دسیاست ډګر هم دهغه یوه برخه، بلکه یوه مهمه برخه ده، او ښځه هم دنارینه وو سره یو ځای پدې مکلفیتکې شامله ده، بیا دبیعت په هکله خبره شوې، او دا بیان شوی چه بیعت یو سیاسي فعالیت او مکلفیت دی او نارینه او ښځې ټول پدې مکلف دي، دهغې نه وروسته دشورۍ په هکله بحث شوی، دسیاست په ډګر کې دشورۍ اهمیت بیان شوی، او دښځو د ونډې په هکله خبره شوی، د هغې نه ورسته دجهاد او هجرت په هکله خبره شوی او دا بیان شوی چه جهاد او هجرت یو سیاسی عمل دی او ښځو په صدر اسلام کې په هغه کې په پوره شکل سره ونډه اخیستې ده .وروسته دکفایې واجباتو او په هغه کې دسیاسي حقوقو (مکلفیتونو (په هکله خبره شوې، همدارنګه په همدی مطلب کې بیا دسیاست په ډګر کې کفایي مکلفیتونه واضح شوی، ددی مطلب په آخرکې دحق د تعسفی استعمال په هکله خبره شوی، هغه تعریف شوی او بیا دحق سلبی تعسف تعریف شوی، ددی څیړنې په آخر کې په صدر اسلام کې دښځو څینې سیاسی مواقف )دریځونه (ذکر شوي، دپای په خبره کې هغه مهم نتایج ذکر شوی، کوم چه دڅیړنې په جریان کې ورته لیکونکی رسیدلی، او هغه وړاندیزونه پکښې ځای شوی، کوم چه دښځو دسیاسی حقوقو (مکلفیتونو) په هکله هغه لیکونکی ته ضروری ښکاره شوی.

1-عضـوء کـادر علمـی پـوهنځی حقـوق و علـم سیاسـی پوهنتون سلام
: +93789316120
:

**معلومات مقاله**

**تاریخ نشر: 1391/12/05**

**شماره مقاله در ژورنال: 02**

**تعداد صفحات:17**

**شماره نوبتی مجله: 3 و 4**

**کلید واژه ها**

**ښځې، اسلام، سیاسی حقوقو، شورۍ، بیعت، جهاد**

**معلومات مجله:**

مجله علمي پوهنتون سلام، نشرات خویش را از سال 1390 هـ.ش آغاز نموده و دست آورد های زیادی در این زمینه دارد، در ادامه سلسله فعالیت های خویش به تاریخ 1401/03/22 اعتبار نامه خویش را به عنوان یکی از معتبرترین مجله از وزارت محترم تحصیلات عالی کشور به دست آورد،

آدرس: افغانستان، کابل، ناحیه چهارم، کلوله پشته، چهار راهی قلعه بست (گل سرخ)، پوهنتون سلام.

**آدرس ارتباطی؛** **ویب‌سایت**: https://salam.edu.af/magazine ، **ایمیل**: salamuk@salam.edu.af ، **شماره های تماس**: +93202230664 و +93788275275

## مقدمه

ښځه د اسلام په مبارک دینکې داسې یو مکرم او عزتمند مخلوق دی لکه څنګه چه نارینه مکرم او عزتمند دی، په عزتمندۍ او انساني کرامت کې دښځې او نارینه تر مینځ کوم توپیر نشته، او کوم فطري او خلقتي تفاوتونه چه دښځې او نارینه ترمینځ شته هغه دیو او بل دتکامل پـه خـاطر دي، او ددې پـه خـاطر دی، چـه پـه کـور او ټولنه کې کارونه دهغوی دفطری خصوصیتونو په اساس تقسیم شي، کوم چه داستطاعت (وس) او توانمندی ټکی(اصـل) پکـې نغښـتی دی، نارینـه او ښځه دواړه دښـو کارونو په بدل کې(په یوه ډول) ثواب مومي، او دواړه عمومي شرعي مکلفیتونو ته یوشان ځواب ورکونه لری، الله پاک فرمایی: (أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ

أُنْثَى)[1]، ترجمه: زه دعمل کوونکی عمل که نارینه وي او که ښځه نه ضایع کوم. او الله پاک فرمایی: (وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ)[2] ترجمه: څوک چه صالح او ښه کارونه وکړي، نارینه وي او که ښځه، چه هغه مؤمن وي نو همدوی جنت ته ننوزي. او الله پاک فرمایی: (مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً)[3] ترجمه: څوک چه صالح عمل وکړي، نارینه وي او که ښځه چه هغه مؤمن وي نو هغه ته به ښه ژوند ورکړو.

دټولنې جوړونه او دهغې داصلاح لپاره کار او هڅه کول (زیار ایستل) دنارینه او ښځې دواړو وظیفه (دنده) ده، دا وظیفه (دنده) تنها (یوازې) دنارینه وظیفه نده، بلکه ښځه هم دنارینه تر خوا (څنګ)پدې وظیفه کې شریکه ده او یوځای ورسره دا مسؤولیت لری، دشریعت نصوص(متنونه) دانسان دمکلفیتونو په هکله په عمومي لفظ سره راغلي چه نارینه او ښځه دواړه په هغه کې شامليږی (رانغاړي)، مګر دا چه ښځه دهغه عمومیت څخه مستثنی شوې وي، او که چیری ښځه ددې عمومي پیغام څخه نوي استثناء شوې نو هغه پدې عمومي تکلیف کې داخليږي، اجتماعي او ټولنیز مکلفیتونه هم همداسې دي، دهغه په عموم کې ښځه داخله ده، او کوم چه نن ورځ ورته ډیر کسان په سیاسي ادبیاتو کې ورته سیاسي حقوق وایي دا هم دټولنیزو مکلفیتونو او مسؤولیتونو یوه برخه ده، چه تنها (یوازې) نارینه دهغه په اداء کولو باندې نه دی مکلف، بلکې ښځه هم په هغه کې شریکه ده، په اسلام کې واجبات او مسؤولیتونه چه په عمومي پیغام کې ذکر شوي وي، په هغه کې نارینه او ښځه دواړه شامليږی، صحابه وو کرامو ټولو داسلام څخه همدارنګه فهم او پوهه درلوده، نارینه او ښځو دواړو دا درک کوله چه دټولنې ټول افراد دټولنیزو مسؤولیتونو په پورته کولو مکلف دي، او عملا هم داصحابو نسل (نارینه او ښځو) د دې مسؤلیتونو دپورته کولو او اداء کولو لپاره هڅه کړې ده، چه سیاسي مسؤولیتونه دهغه یوه برخه ده، درسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوندانه کې او دراشده خلفاو په عهد کې ښځو په سیاسي مسؤولیتونو کې خپله ونډه په واضحه(څرګنده)توګه ترسره کړې ده، او دا د دې دلیل دی چه دښځې غیاب دسیاسي فعالیتونو دساحې او ډګر څخه دمسلمانانو دانحطاط د دورې آثار دي چه دمسلمانو ټولنو عملي ژوند ورڅخه متأثر شوي دي، او دهغې په نتیجه کې ښځه په ټولنه کې دخپلې جوړوونکې دندې څخه لېرې شوې، او دهغې ټول استعداد او توانمندي دکور په کارونو اود اولاد په تربیه پورې منحصره شوې ده، په داسې حال کې چه په ښځو کې داسی استعدادونه هم شته چه هغه دفامیل داحاطی نه بهر په ټولنه کې دتأثیر ایښودلو قیادتي او ابتکاري وظایف ترسره کولای شي، اما ټولنه تر مختلفو نومونو دهغوی داستعداد او توانمندیو څخه محرومه شوې ده.

اسلامي شریعت حقوق دتکالیفو (داوامرو او نواهیو) په ډول سره مطرح کوي، او دارنګه مطرح کول دټولنو دغوښتنو سره اړخ لګوي او دسلبي تعسف (دحقوقو څخه نه استفاده کول) له مینځه وړي، او دټولنې افراد مثبت چلند او تعامل ته هڅوي، او له همدې ځایه د واجباتو صیغه په اسلامي فکر کې غوره او ښه تعبیر دی دحقوقو دتعبیر څخه، کوم چه په غربی ادبیاتو کې رواج موندلی دی، او په ټولنه کې یې دحقوقو څخه داستفادی او ګټې په هکله سلبي موقف (دریځ) رامینځ ته کړی، تردې چه ډیر خلک په ټولنه کې دا حقوق ضایع کوي، او د هغه ضایع کول او دهغو څخه نه استفاده کول داسې خپل حق بولي لکه څنګه چه د هغې څخه استفاده کول خپل حق بولي.

شرعي نصوص او دهغو دلالتونه په انسان باندې (نارینه اوښځینه) په متکامل شکل (بشپړ ډول) سره سیاسي عمل واجبوي کوم چه دټولنې دمنافعو(ګټو) دساتلو او د ټولنې دسعادت، نیکمرغۍ او پرمختګ لپاره ضروري دي، لکه دنصیحت او مشورې د واجب اداء کول، حقه خبره کول، نواقصوا او تېروتنو ته ګوته نیول، دمسلمانانو د سیاسي قیادت لپاره قوی، ځواکمن او امانتداره انسان انتخابول، دهغه مؤسساتو ایجادول کوم چه د سیاسي اصلاحاتو لپاره هڅه او کوښښ وکړي، لکه د سیاسي احتساب، نصیحت او ناقدانه څېړنو بنسټونه، مؤسسات او د صنفي اتحادیو رامینځ ته کول.

په دېکې هیڅ شک نه شته، چه امت ښې او راشدې حکومتدارۍ ته کلکه او جدی (پرېکنده) اړتیا او ضرورت لري، او دا ضرورت او اړتیا د خوراک، څښاک، مسکن او د اوسېدلو دځای دضرورت څخه کم نه دی، او اسلامي شریعت هم دښه او راشد حکومت رامینځ ته کول په ټول امت باندې واجب ګرځولی، او داچه ښځه د امت نیمایي برخه تشکلیوي، او هغوی کولای شي په فردي او ټولنیز ډول سره د سیاسي اصلاح په ډګر کې ونډه واخلي، او که ښځه د دې نه محرومه وي نو د امت هڅه او کوشش به دیوې مسؤولې او توانمندې حکومتدارۍ درامینځ ته کېدو په هکله حتما نیمګړې او ناتوانه شي.

دپورته ټکو په نظر (پام) کې نیولو سره دغه لیکنه د دې لاندې هدفونو په خاطر درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:

- د اسلام دښمنان داسې تبلیغات کوي چه اسلام ښځې ته دټولنې دامورو (چارو) په هکله حقوق ندي ورکړي او په ښځه باندې ظلم کوي او هغه په کور کې زنداني کوي او نه یې پرېږدي چه دکور نه د باندې دټولنې په جوړولو کې برخه واخلی، نو پدې لیکنه کې به دا واضح کړم چه اسلام ښځه د دې څخه نه منع کوي چه هغه د ټولنې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې برخه وانه خلي، او ددې دلایل به بیان کړم، چه د ټولنې په سیاسي اقتصادي او اجتماعي چارو کې دښځې ګډون نه یوازې چه جایز او روا کاردی، بلکې هغه یو شرعي واجب او مکلفیت دی.
- زموږ په ټولنه کې ډیر خلک دیانت او دینداري په شخصي او فردي عباداتو( لمونځ، روژه.. ) خلاصه کوي، اما اجتماعي او ټولنیزو مسؤولیتونو ته په اسلامي واجباتو او مکلفیتونوکې مناسب ځای نه ورکوي، او دا سبب شوی دی، چه ټولنیز فعالیتونه لکه سیاست، اقتصاد او اجتماع.... ددیندراه عناصرو دتوجه، پاملرنې او کارکړنې نه لېرې پاتې شي، او په نتیجه کې دا ساحه او ډګر دنیکو او اخلاصمنو افرادو څخه خالی (تش) شي، او په بل عبارت د ټولنې دیندراه طبقه د همدې ناقصې دیني پوهې په نتیجه کې د اجتماعي، سیاسي او اقتصادي ډګر سره فاصله ونیسي او هغه داسې عناصرو ته پرېږدی، چه دمال او دارایی (ثروت) ټولول یې دژوندانه ستر هدف او مقصد وي، نو هغوی په کامل توان سره دی ډګر ته وردانګی، او په ډیره بې انصافۍ سره پدې ډګر کې ناوړه تصرفات کوي، چه په امت کې د بې عدالتۍ او طبقاتي نظام او دفقر او جهالت د پراختیا سبب ګرځي او اسلامي ټولنه دبدبختۍ او وروسته پاتې کېدو په لور حرکت کوي، نوپدې لیکنه کې به واضح کړم، چه سیاسي فعالیت دعامه او ټولنیزو چارو د سمون او دخلکو دمنافعو دساتلو او بیا هغه ته د ودې ورکولو په خاطر یو دیني واجب او مکلفیت دی، او دا هم هغسې شرعي مکلفیت دی،لکه څنګه چه لمونځ کول او روژه نیول شرعي مکلفیت دی، صرف په دومره فرق او توپیر سره چه په اجتماعي مکلفیتونو کې پیغام ټولې ټولنې ته متوجه دی، چه دنه

[1] دآل عمران سورت، ۱۵۹ شمیره آیت.

[2] دالنساء سورت، ۱۲۴ شمیره آیت.

[3] د النحل سورت، ۹۷ شمیره آیت.

کولو په وخت کې ګناه هم ټولې ټولنې ته متوجه کېږي، او د نه کولو او نه عملي کولو ضرر یې هم په ټولنه باندې لویږي، اما په فردي او شخصي عباداتو کې پیغام هر فرد ته متوجه دی، او دنه کولو په صورت کې ګناه هم فرد ته متوجه کېږي، او کوم ضرر چه دنه کولو په وختکې مینځ ته راځي هغه هم فرد ته متوجه کېږی، چه دا ډول مقایسه او پرتله کول بیا داجتماعی مکلفیتونو(چه سیاسی فعالیت دهغه یوه برخه ده) اهمیت په شرعي لحاظ سره ډیروي، چه داخبره پخوانیو علماوو هم کړې ده.

- زموږ ټولنه د سیاسی امورو او چارویه هکله زیات مشکلات او ستونزې لرې، په اسلامي ټولنو باندې سیاسي استبداد حاکم دی، او د دې استبداد دحاکمیت په نتیجه کې د خلکو منافع ضایع شوې، فساد حکومتی اداراتو ته لاره موندلې، دمشرتابه تر خوا ځو متملقین راټول شوي چه غیر دمشر د مداحې څخه په نور کار باندې نه پوهیږي، او د دې استبداد دحاکمیت په نتیجه کې اسلامي ټولنې د ترقی او تمدن دنړیوال حرکت څخه د اداري، صنعت، تجارت...... په ساحاتو کې وروسته پاتې شوي، مسلمانان د فقر، جهل او داخلي نزاعاتو په مرضونو باندې آخته شوي، چه په نتیجه کې قوی او پیاوړي هېوادونه زموږ دزیرمو او شتمنیو دلوټولو په فکرکې شول، او اسلامي نړی ته یې راودانګل او اسلامی ملتونه یې تر یرغل لاندی راوستل، او په نتیجه کې داسلامي امت داکثرو ملکونو سیاستونه د استعماري ګټو دساتلو په خدمت کې واقع شول، نو د دې ځایه ده، چه دراشده حکومت د رامینځ ته کیدو او راتګ کلک ضرورت احساس کېږی، چه هغه دخلکو په خدمت کې وي او دخلکو منافع او شتمنی تشخیص کړي، هغه وساتی او هغو ته وده ورکړي، او په نهایت کې د یوې مرفه، هوسا او مترقي ټولنې دجوړتیا په لور د هیواد بشري او مادي شتمنی په کار واچوي او د دې شتمنیو مدیریت په کاملا امانت داری، صداقت او توامندی سره وکړي، او ملت د دې هڅو په نتیجه کې داسې لوړتیا ته ورسوی چه دنورو ملتونو دهدایت او لارښونې سبب شي او په بشري نړی کې دعدالت د تأمین لپاره زمینه جوړه کړي، او د دې لوړ هدف لپاره به په دې لیکنه کې دښځو رول او ونډه واضح کړم.

دا لیکنه په پنځو مطلبونو کې ترتیب شوې، چه په لومړي مطلب کې می ځینی مقدماتی مسایل واضح کړي دي، په پیل کې دسیاست دکلمې مفهوم او معنی واضح شوې، دهغی نه ورسته بیا حقوق تعریف شوی او ددواړو کلمو دمفهوم د واضح کولو نه ورسته د سیاسي حقوقو اصطلاح تعریف شوې ده.

په دوهم مطلب کې مې په دې هکله خبره کړې ده، چه آیا د سیاسي حقوقو اصطلاح سمه ده او که هغه ته دسیاسی مکلفیتونو اصطلاح وکارول شی بهتره به وي؟ او په دې مطلب کې مې دا بیان کړی، چه سیاسي حقوق داسلامي شریعت په رڼا کې اصلا مکلفیتونه او واجبات دی، او دسیاسی حقوقو اصطلاح ورته کارول دقیق او موجه ندي، او همدار نګه په دې مطلب کې مې د سیاسی حقوقو داصطلاح دکارولو په اساس د منفي اړخ د رامینځ ته کېدو په هکله هم بیان کړی دی، او دا مې هم واضح کړی ده، چه د دې حقونو څخه په ځای ګټه پورته کول دټولنې په روند او بهیر باندې څومره مثبته اغیزه لری؟

په دریم مطلب کې مې د سیاسي حقوقو (مکلفیتونو) شکلونه او بڼې بیان کړې او په هغه کې مې دښځو د ونډې اخیستلو شرعي دلایل بیان کړی دی، په پیل کې مې دا مطلب بیان کړی،چه په الله تعالی او دهغه په رسول صلی الله علیه وسلم او داسلام په شامل او هر اړخیز دین باندې ایمان راوړل او په ټولنه کې دهغه دتطبیق لپاره هڅه کول په خپل ذات کې سیاسي عمل دی، هر انسان په دې مکلف دی، چه په اسلام باندې دیو شامل او هراړخیز دین په حیث او توګه باندې ایمان راوړي او بیا دهغه د عملي کولو لپاره هڅه وکړي، او په دې بحث کې مې دا بیان کړې ده، چه ام المؤمنین خدیجه رضی الله عنها اولینه ښځه وه، چه په اسلام باندې یې ایمان راوړ، او په هغه کې دومره سیاسي پوهه او شعور وو، چه دنبوت صادقانه غږ د دروغجن غږ څخه بېل کړی، او بیا هغه دین ومنې او دهغه د تطبیق لپاره هڅه وکړي او خپل ژوند د هغه لپاره وقف کړي، بیا مې دامر په ښو کارونو او نهی له بدو کارونو (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) او نصیحت کولو په هکله بحث کړی دی او دا می بیان کړي، چه امر بالمعروف دژوندانه ټولو خواوو ته شاملیږی، او دسیاست ډګر هم دهغه یوه برخه بلکه یوه مهمه برخه ده، او ښځه هم دنارینه وو سره یو ځای پدې مکلفیت کې شامله ده، بیا مې دبیعت په هکله خبره کړې، هغه مې تعریف کړی او دا مې بیان کړی چه بیعت یو سیاسي فعالیت او مکلفیت دی او نارینه او ښځې ټول پدې مکلف دي، چه د اسلامي ټولنې لپاره وړ او مناسب مشرتابه وټاکي، دهغې نه وروسته مې دشوری په هکله بحث کړی، هغه مې تعریف کړی، او بیا می دسیاست په ډګر کې دشوری اهمیت بیان کړی، او دهغې نه ورسته می دښځو د ونډې په هکله خبره کړی او دا مې بیان کړی چه ښځه دشوری اهل ده او درسول الله صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاوو په زمانه کې ښځو عملا دسیاست په ډګر کې په شوری کې برخه اخیستې او دمسلمانانو مشرتابه دهغوی مشورې په نظر کې نیولې دی، د هغې نه ورسته می بیا دجهاد او هجرت په هکله خبره کړی او دامې بیان کړی چه جهاد او هجرت یو سیاسی عمل دی او ښځو په صدر اسلام کې په هغه کې په پوره شکل سره ونډه اخیستې ده.

په څلورم مطلب کې مې دکفایي واجباتو او په هغه کې دسیاسي حقوقو (مکلفیتونو) په هکله خبره کړې، په پیل کې مې کفایي مکلفیتونه او واجبات تعریف کړی، ورسره مې عیني مکلفیتونه هم تعریف کړی او ددې اصطلاح ګانو درامینځ ته کېدو علت مې هم بیان کړی، بیا مې دشریعت مقصد او هدف په کفايي مکلفیتونو او واجباتو کې بیان کړی، او دا مې هم بیان کړی چه کفایي مکلفیتونه اصلا دعامه چارو او مسلمانانو دعامه منافعو دساتلو په خاطر وضع شوی، اما دمسلمانانو دسستی او یاهم په اسلام باندې دسمې او شاملې نه پوهې په نتیجه کې دا مکلفیتونه مسلمانانو ته کم رنګه معرفي شوي او یاهم ورته کافي اندازه توجه نده شوی، او د همدې ناسمې پوهې په نتیجه کې ډیر مسلمانان ټولنیزو مسؤولیتونو ته د دیني وجیبې او مسؤولیت په سترګو نه ګوري بلکه هغه ته دیو مباح او یاهم مستحب کار په سترګه ګوري، په داسې حال کې چه کفایي مکلفیتونه په حتمیت او لزومیت کې دعینی مکلفیتونو څخه کم ندی، صرف توپیر پدی کې دی چه په عینی مکلفیتونو کې مکلفیت هر فرد او عین مکلف ته متوجه دی او په کفایي مکلفیتونو کې پیغام ټولې ټولنی ته متوجه دی، همدارنګه په همدی مطلب کې می بیا دسیاست په ډګر کې کفایي مکلفیتونه واضح کړی، چه پدې هکله مې دقوی او امین حاکم دانتخاب دمکلفیت په هکله خبره کړې، دا مې بیان کړی چه دوړ سیاسی مشرتابه انتخابول کفایي مکلفیت او واجب دی، او ښځه هم په دې مکلفیت کې د نارینه تر خوا شامله ده، بیا مې دحکومت دڅارنې او نظارت په هکله خبره کړی او دا مې بیان کړی چه دا څارنه هم مکلفیت دی او دڅارنې دموجودیت لپاره مناسب هیکلونه جوړول په ټولنه کې هم یو مکلفیت دی، تر څو وکولای شی دحکومت کړنې ارزیابی کړی او هغه داسلامی ټولنې دغوښتنو او ضرورتونو سره پرتله او دامکاناتو، فرصتونو او موانعو په نظر کې نیول سره هغه ارزیابي، او بیا دحکومت داصلاح او ښه والی په هکله مناسب او مؤثر فشارونه رامینځ ته کړی او دا مې بیان کړې، چه ښځه د دې کارونو او فعالیتونو په هکله دنارینه سره یوځای مکلفیت او ونده لری او داکار تنها دنارینه په غاړه ندی، ددی مطلب په آخرکې می بیا دحق د تعسفی استعمال په هکله خبره کړی، هغه می تعریف کړی او بیا می دحق سلبی تعسف تعریف کړی، او دا می بیان کړی چه دکفایي واجباتو سم ، شمولي او تمدنی پوهیدل دحق سلبی تعسف له مینځه وکړی او دټولنی افرادو ته دایجابی او مثبت تحرک روحیه او انګیزه ورکوی، چه په نتیجه کې دټولنی دپرمختګ سبب ګرځی.

په پنځم مطلب کې مې په صدر اسلام کې دښځو څینې سیاسی مواقف (دریځونه) ذکر کړي، چه پدې اړه مې دابوبکر صدیق رضی الله عنه ددوه لورګانو مواقف ذکر کړی، چه یوه هم ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها ده او بله هم اسماء د هغې مشره خور ده، چه دحجاج ابن یوسف پر وړاندې یې خپله دحق خبره وکړه، او د هغې نه ورسته مې بیا هغه شرعي ضمانتونه بیان کړی، چه اسلامي شریعت دخپلو احکامو په لړ کې د ښځی دسیاسي پوهاوی د تحقق په اړه روا کړي دي.

دپای په خبره کې مې هغه مهم نتایج ذکر کړی، کوم چه دڅېړنې په جریان کې ورته رسیدلی یم، او هغه وړاندیزونه مې پکښې ځای کړی، کوم چه دښځو دسیاسی حقوقو (مکلفیتونو) په هکله هغه راته ضروری ښکاره شوی.

دپاک الله نه غواړم چه زما قصد او نیت د دې لیکنې په کولو کې دالله تعالی د رضامندی په خاطر خالص کړی، چه د هغې په نتیجه کې پاک الله ماته د دې لیکنې اجر راکړي، او دا لیکنه د فکري روښانتیا او داسلام ددین د هراړخیر او متوازن پوهاوی په اړه یو مثبت قدم وګرځوي.

عبدالباقی امین

کابل- خوشحال مینه

**لومړی مطلب**

**دسیاسي حقوقو مفهوم**

**اول: دسیاست تعریف**

مسلمانو معاصرو فقهاوو سیاست داسې تعریف کړی دی: سیاست داسلامي دولت دچارو دتدبیر څخه عبارت دی، کوم چه عامه منافع او مصالح تأمین کړی، ضررونه دفع کړی، او دشریعت دحدودو او اصولو څخه تجاوز ونه کړی.[1]

**دوهم: دحق تعریف**

حق هغه واک دی، چه انسان ته دتصرف او یاهم دبل چا څخه دادا‌ء کولو دغوښتنی صلاحیت ورکوی، لکه دانسان تصرف په خپلو ممتکلاتو کې او یاهم د انسان صلاحیت پدې کې چه دنورو انسانانو څخه دهغه تعهداتو د پوره کولو غوښتنی وکړي، کوم چه په ځان باندې یې منلې وي.[2]

**دریم: دسیاسي حقوقو تعریف**

داسلام په فرهنګ کې سیاسي حقوق عبارت له هغه مکلفیتونو څخه دی، چه په امت کې د ښې حکومت داری درامینځ ته کېدو او دهغه دمقاصدو دتحقق او پوره کېدو په اړه دمسلمانانو په اوږو اینښودل شوی دی.[3]

او د سیاسي حقوقو موضوعات عموما په اسلامي فقه کې د دشرعي سیاست او یاهم سیاسي فقهې تر نوم لاندې ځای په ځای شوی دی، او په هغه کې دفرد او دولت ترمینځ دمسایلو تنظیم تر بحث لاندې نیول کېږی.[4]

**دوهم مطلب**

**سیاسي حقوق او که سیاسي مکلفیتونه؟**

دسیاسي حقوقو اصطلاح نن ورځ ډېره زیاته شوی ده او ډېره استمعالیږی، تردې اندازه خو د دې اصطلاح استعمالول سمه معنی لري، چه په هغه کې وپوهېدل شي، چه انسانان دا واک لري چه دسیاسي قضایاوو په هکله، د ښې حکومتداری په هکله، دراعي او رعیت ترمینځ په عادلانه تعهداتو د ولاړې رابطې د سمې جوړولو په هکله، هڅه وکړي او په عامه امورو او چاروکې دغلطو، ناروا او مضرو تصرفاتو مخه ونیسي، اما په اسلامي ادبیاتو کې دغه دښې حکومتداری درامینځ ته کولو هڅې دحق او حقوقو دکلمې نه پورته او په قوی شکل کې مطرح شوی دی، هغه مکلفیتونه دی او انسان ددین له لحاظه ملزم دی، چه دا دسیاست په ډګر کې مکلفیت ترسره کړی، هغه یوازې واک ندی بلکې هغه مسؤولیت دی، او حق لکه څرنګه مو چه پورته تعریف کړی هغه واک ته وایي چه انسان ته د تصرف او یا هم دبل چا څخه دالتزاماتو او تعهداتو د پرځای کولو د غوښتنې حق ورکوي، اما سیاسي حقوق داسلام له نظره دحق دتعریف په چوکاټ کې نشي خلاصه کېدای بلکې دهغه نه زیات قوت لري، ځکه حق په هغه پورته معنی او بنسټ انسان ته دتصرف او غوښتنی صلاحیت ورکوي، او د هغې ترڅنګ انسان ته دنه تصرف او یاهم نه غوښتنې صلاحیت هم ورکوي، او دا تصور داسلام دتصور سره فرق او توپیرکوی، نو له دی ځایه ده چه سیاسي حقوقو ته باید سیاسي واجبات او یاهم سیاسي مکلفیتونه وویل شي، او ددې تعمق نه دا جوته معلومیږی چه اسلامي نظر دسیاسي حقوقو په اړه دقیق، دجامعې او ټولنې دغوښتنو سره برابر، او د انساني ټولنې په هکله د مسؤولیت پیژندنې سره توافق او سمون لري، او د دې مطلب د پوره شرحه کولو په خاطر دا لاندې مطالب ذکر کوم:

---

[1] وګوره: عبدالوهاب خلاف، السیاسة الشرعیة، ۱۹۷۷م دار الأنصار، ص: ۱۵ ، او ابن عقیل حنبلی سیاست داسی تعریف کړی دی: (هغه تصرفات چه خلک دهغه سره صلاح ته لنډ او له فساد څخه لیری وی که څه هم په هغه کې درسول الله صلی الله علیه وسلم نه نص نه وی راغلی او نه هم په هغه کې په وحی کې څه نازل شوی وی) او بعضی هم شرعی سیاست داسی تعریف کړی دی: دشرعی احکامو په رڼا کې دبشری سلوک تنظیمول هغه که راعی (حکومت) وی او که رعیت (محکومین) وی.

[2] دحق دتعریف په هکله وګوره: احمد عبدالله عوضی، په اسلامی شریعت کې درعیت سیاسی حقوق او دوضعی نظامونو سره دهغه مقایسة (الحقوق السیاسیه للرعیة فی الشریعة الاسلامیة مقارنا بالنظم الوضعیة) په مقایسوی فقه کې دماستری رساله، چه داحمد علی ازرق تر سرپرستی لاندی لکېل شوی چه په ۱۹۹۴م کال کې دامدرمان اسلامی پوهنتون ته وړاندی شوی، ص: ۴ ، او عبدالرزاق سنهوری، اصول القانون، منشأ معارف، اسکندریة، مصر، ص:۵۸.

[3] احمد عبدالله عوضی، په اسلامی شریعت کې درعیت سیاسی حقوق او دوضعی نظامونو سره دهغه مقایسة (الحقوق السیاسیه للرعیة فی الشریعة الاسلامیة مقارنا بالنظم الوضعیة) په مقایسوی فقه کې دماستری رساله، چه داحمد علی ازرق تر سرپرستی لاندی لکېل شوی چه په ۱۹۹۴م کال کې دامدرمان اسلامی پوهنتون ته وړاندی شوی، ص: ۱۲، او دکتور جابر جاد په خپل کتاب (القانون المدنی الخاص) ص:۲۷۲ کې داسی تعریف کړی: (سیاسی حقوق هغه حقوق دی چه دهغی لا لاری فرد د دولت اوحکومتداری په کارونو کې برخه اخلی).

[4] سابقه فقهاوو په سیاست کې لیکنی کړی دی: امام ماوردی شافعی داحکام سلطانی تر نوم لاندی کتاب لیکلی، او ابویعلی فراء هم داحکام سلطانی تر نوم لاندی کتاب لیکلی، ابن تیمیه السیاسه الشرعیه فی اصلاح الراعی والرعیه ترنوم لاندی کتاب لیکلی، وطرق حکمی ابن قیم تألیف کړی او معاصرو علماو هم دسیاسی فقهی په اړه ډیر کتابونه لیکلی دی.

- **د انساني ټولنې دغوښتنو پوره کول دمکلفیتونو په بڼه کې**: اسلامي شریعت هغه څه چه د انسانانو څخه غواړي، هغه دمکلفیتونو په بڼه کې ددوی په اوږو باندې ږدي، چه دا مکلفیت کله هم دیو کار او عمل د اجراء کولو په اړه وی او اسلامی شریعت دمسلمان څخه غواړی چه هغه اداء او ترسره کړی، او کله هم اسلامي شریعت دانسان څخه دیو کار څخه ډډه کول او دهغه نه عملي کول غواړي، او دهغه څخه دځان ساتلو امر کوي.
- **دشرعي مکلفیتونو مقصدونه**: اسلامي شریعت ددې په خاطر دیو کار په عملي کولو باندې امر کوي چه هغه کار د انسان دفردي ژوندانه او یاهم دټولنیز ژوندانه لپاره مفید او یاهم ضروري وي، او دهغه نه عملی کول او دهغه پرېښودل دانسان په فردی او یاهم اجتماعی ژوندانه باندی منفي تأثیر پریږدی، او فرد او یاهم ټولنې ته ضرر رسوی، او مسلمان علماء وایی چه اسلامي شریعت چه دکوم کار نه نهی کړی ده په هغه کې حتما ضرر نغښتی دی، او دکوم کار په کولو یې چه امر کړي حتما هغه دانساني ټولنې لپاره په فردي او یاهم اجتماعي لحاظ باندی مفید دی.
- **مکلفیتونه متفاوتې درجې لري**: او بیا دامفیدیت داهمیت له کبله دوه ډوله دی، یا هم دا مفیدیت ډیر قوي دی، چه دانسان د فردي ژوند او یاهم دټولنې د باعافیته حرکت لپاره ضروري او حتمي وي، چه اسلامي شریعت بیا دهغه په کولو باندی حتمي امر کوي، او هغه دواجبو او یاهم فرایضو په چوکاټ کې اچوي او دهغه تطبیقول په حتمي شکل سره غواړي، خوکله چه دیوه کار کول مفید او ګټور وي اما ضروري نه وي او دهغه په نه کولو کوم ضرر یا زیان دانسان فردی ژوندانه او یاهم ټولنې ته نه رسیږي نو اسلامي شریعت په دې حالت کې د دې کار کولو ته مسلمان ترغیبوی او هڅوي، او دسنتو او مستحبو احکامو په جمله او ټوله کې هغه راولي چه په کولو یې انسان ته ثواب رسیږی اما په نه کولو یې انسان ته ګناه نه متوجه کېږي او مسلمان په هغه صورت کې مقصر نه ګڼل کېږي.
- **فردي او ټولنیز مکلفیتونه**: او دغه مفید، ګټور او یاهم ضروری کارونه چه اسلامي شریعت یاهم هغه ته ترغیب او هڅونه کړی او یاهم یې هغه دحتم او الزام په شکل سره دانسان څخه غوښتی دي، یاهم دمسلمان په فردي عبادتي ژوند پورې اړه لري، او دهغه دعملی کولو څخه دشریعت اساسي مقصد دانسان تربیه او روزنه او تزکیه وي، چې دیته په اسلامي شریعت کې عیني مکلفیتونه وایی چه هر فرد هغه باید اجراء کړی، او دا مفید او ضروری کارونه یاهم دټولنیزو منافعو دتامین او ساتلو په خاطر وی او دشریعت مقصد او غرض ورڅخه داوی چې ټولنیز منافع په سم شکل سره وساتل شي او د هغه ساتنه او حمایه وشي، چه دا مکلفیتونه داسلامي شریعت په اصطلاح کې کفایي مکلفیتونه دي او د هر فرد عملي کول په هغه باندې ضروري نه وي، اما دهغه کار کېدل او اجراء موندل هدف وي او د هرچا له طرفه چه وي، دلته همدومره مختصر ذکر کوم، چه د لیکنې په پای کې به کفاي او عیني مکلفیتونه په لږ غوندې تفصیل سره ذکر کړم.
- **ټولنیز مکلفیتونه حقوق ندي، بلکې واجبات دي**:کومو فعالیتونو او کارونو ته چه غربی او لوېدیځ سیاسی ادبیات سیاسي حقوق وایي په حقیقت کې هغه ټول اجتماعي مکلفیتونه دي، چه داسلام دین دمکلفینو په غاړه باندې ایښي دي، د ټولنې لپاره سیاسي ور قیادت انتخابول په غربي ادبیاتو کې حق دی، دهغوی په اند انسان کولای شي، چه د انتخاب صندوقونو ته ورشي او کولای شي هلته ور نه شي، نو که ورشي د خپل حق نه یې استفاده کړې ده، او که ورنه شي نو دټولنې په هکله دکومې ګناه مرتکب ندی شوی، اما د هغه حق دی، چه د انتخاباتو صندوق ته لاړشي، او څوک هم هغه ددی نه منع کولای نه شي، اما په اسلام کې بیا دا خبره نه شته، داسلام له نظره اسلامي ټولنه مکلفه ده، چه دخپل ځان لپاره داسې سیاسي قیادت انتخاب کړي، چه په هغه کې دوه اساسي صفتونه وجود ولري، یو یې امانت دی، او امانت په دې معنی دی، چه سیاسي قیادت باید دخلکو دمنافعو په ساتلو کې امانتدار واوسیږي، دملت په عامه شتمنیو کې دانصاف په نظر کې نیولو سره تصرف وکړي، هغه خپله ټوله هڅه د دې لپاره وکړی چه ملت یی هوسا او پرمختللی وی، دوظایفو په ویشلو کې دکفایت او ور والی معیار اساس وبولي او ټول ملت ته په یوه سترګه وګوري، او دوهم صفت دا چه هغه توانمندی ولري د دې قدرت او ورتیا ولري،چه دخلکو دمنافعو د تأمین لپاره هڅه وکړي، دهېواد منافع تشخیص کړای شي، نو دا د خلکو مکلفیت دي، چه داسې یو سیاسي قیادت انتخاب کړي، او پدې اړه هیڅ سستي، ناغیړي او کسالت ونه کړي، او هیچا ته هم اجازه نه شته چه د دې کوشش څخه ځان وباسي، او که څوک ددې کار نه ځان وباسي نو دشرعي واجب دعملی کولو په هکله یی سستی او ناغیړي کړی او ګنهکار دی.

په غربی ادبیاتو کی دسیاسي حقوقو اصطلاح سبب شوې،چه حق د مسؤولیت او مکلفیت نه لېرې پاتې شي او دهغه څخه فاصله ونیسي، او سبب شوې دسیاست په ډګر کې سلبیت او منفی ګرایی رامینځ ته کړي چه هغی ته سلبی تعسف هم وبل کېدای شی (په سیاسی فعالیت کې نه شرکت کول) اودهمدی ناسم فهم په اساس په اسلامي نړی کې ډیر ځله زیات خلک دهیواد دسرنوشت او برخلیک دټاکلو په مسایلو کې بی مسؤولیته موقف او دریځ نیسي، لکه چه هیڅ په هغوی پورې اړه نه لري، ښه دینداره لمونځ ګذاره سړی به وی، یو لمونځ به هم په جمع نه قضا کوی، اما کله چه دانتخاباتو ورځ راشی یا به خپله رایه په چا باندی دڅه مادی امتیازاتو په مقابل کې خرڅوی، او یابه هم دخان او دقبیلی دمشر په خاطر به خپله رایه د یو کس لپاره کاروی، او دا چه خپله رأیه امانت وبولی او هغه چاته یی ورکړی چه هغه ددی وظیفی لپاره مستحق او وړ ګڼی، داسی خلک به په ټول هیواد کې دګوتو په شمیر سره هم پیدا نشی، او دا نوع خلک کوم چه پورته تصرف کوی په خپلو شخصی عباداتو کې ددینداری ترخوا بیا په دی عمل کې هیڅ نوع احساس دې حرج او ننګونې هم نه کوي، ځان ګنهکار هم نه ورته ښکاریږی.

دغه پورته واقعیت په دې دلالت کوي چه اجتماعي مسؤولیتونه په دیني پیغام کې ټولنې ته په سم شکل سره نه دی رسیدلي، او خلک دټولنیزو مسؤولیتونو په هکله داسلام دمبارک دین په رڼا کې سم او سوچه معلومات نلري.

په اوسني وخت او زمانه کې چه کوم ضرر اسلامي ټولنو ته دسیاسی ناوړ قیادت له خوا متوجه شوی دبل هیچا له خوا نه دی متوجه شوی، که اسلامي ملکونه د غربی یرغلګرو تر برید لاندې راغلی همدې استبدادي سیاسي قیادتونو ورته لاره هواره کړې، که په ملک کې فقر او بیکاری زیاته شوی، دهمدې سیاسي قیادتونو دخیانت او ناکامی اداري په سبب وو، که په هیواد کې بی سوادي او مخدره مواد ډیر شوي نو هم د همدې خاینو، مستبدو او دزور په واسطه دقدرت نیوونکو سیاسي مشرانو د عمل نتیجه ده، او که ددې ټولو په نتیجه کې اسلامي امت ټوټې ټوټې اواختلافاتو کې ژوند تیروي د اهم دهمدې سیاسي مشرانو دعمل نتیجه ده، داسلام مبارک دین اسلامي ټولنه مکلفه کوي، چه باید داسې د خلافت او حکومتداری مؤسسه مینځ ته راولي کومه چه دخلکو په مینځ کې دالله پاک دین پلی کړي، او ددین په رڼا کې دخلکو منافع اوګټې په عادلانه توګه وساتي، او دا یو کفایي واجب دی او ترهغه به خلک ګنهکار وي چه دوی نه وی کړای شوی چه داسې یو راشده حکومت او داسې یوه مسؤولیت پیژندونکې اداره را مینځ ته نه کړی، نو مسلمانانو ته پکار ده، چه نوموړي ټولنیز مسؤولیت ته دیو دیني او اسلامي مسؤولیت په حیث متوجه شي، او دا ځکه چه په دې کار پورې د ټولنې ټوله راتلونکې تړلې ده.

## دریم مطلب

## دسیاسي حقوقو (مکلفیتونو) بېټې او په هغه کې دښځو ونډه

### اول: د اسلام په شامل دین باندې ایمان راوړل

نارینه او ښځه دواړه پدی مکلف دی، چه داسلام په ژوند شموله او مبارک دین باندې ایمان راوړي، هغه څه چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم دالله له طرفه امت ته راوړي په هغه باندې ایمان راوړي، او ایمان راوړل پداسې دین باندې چه دژوندانه دټولو چارو دتنظیم لپاره ارشادات، لارښونې او هدایات لري او بیا دهغه دعملی کولو لپاره هڅه کول یو سیاسی عمل دی، ځکه داسلام مبارک دین دښی حکومتداری دجوړیدو لپاره هدایات او ارشادات لري، دعامه منافعو دحفظ او خوندي ساتلو لپاره ارشادات او هدایات لری، داجتماعی عدالت دتأمین لپاره احکام او لارښوونی لري، لکه څنګه چه اسلام د اوسېدلو دمحیط دجوړتیا او حمایت لپاره ځانله لارښوونې لري، اسلام مسلمانانو ته امر کوی چه دظالم سره کمک ونه کړی، دهغه د ظلم مخه ونیسي، چه دا کارونه ټول سیاسی عملونه دی، نارینه او ښځه دواړه پدی باندې مکلف دي، دصدر اسلام دمسلمانانو ژوند مونږ ته دا ښه جوته کوی چه هلته ښځو دخپلو هراړخیزو مکلفیتونو دپورته کولو لپاره خپله ټوله هڅه کوله، تاسی وګوري چه ام المؤمنین خدیجه رضی الله عنها لومړنۍښځه وه، چه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې یې ایمان راوړ او داسلام مبارک دین یی قبول کړ، او تاسې دخدیجې رضی الله عنها په شخصیت کې مهمی خوا ته باید متوجه شی، هغه له لوړسیاسی پوهې او سیاسي ځیرکتیا څخه برخمنه وه، او خدیجه رضی الله عنها پوره پوهېده چه دآخرینې او ورستنې پیغمبر د راتلو وخت را رسېدلی دی او دا علم یې هم درلود چه د هغه صفتونه او خصلتونه وپیژني، او بیا وکولای شي، چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دخبرو څخه دا وپوهیږي چه هغه پیغمبر دی، او د خدیجې رضی الله عنها دسیرت څخه دا درس اخلو چه ښځه ددې په خاطر چه خپله دنده او وظیفه په ټولنه کې سمه اداء کړي نو باید په هغه څه پوه وی کوم چه دهغه په شاوخوا او چاپیریال کې تیریږي، هغه درک کړای شی، هغه تحلیل کړای شی او په هغه کې خپله توانمندی او وظیفه وپیژندلای شی، او دټولنې دخیر او بهبود لپاره هڅه وکولای شی[1]

### دوهم : امر په معروف او نهی له منکر څخه

امر په معروف دی ته وایی چه مسلمان کله هم چه یو دیني واجب کار و ویني، چه په ټولنه کې نه ترسره کېږي او اسلامي شریعت دهغه په کولو امر کړی وی،که داکار دټولنې د افرادو په فردي ژوندانه پورې اړه ولري او یاهم په ټولنیزه ساحه پوری اړه ولری اودخلافت دمؤسسی له خوا نه ترسره کېږي، نو دی وخت کې مسلمان ساکت نه پاتی کېږی بلکه دهغه کار په کولو باندی توصیه کوی، مربوطه طرف که فرد وی او که دټولنی مشرتابه وی متوجه کوی، او یاهم داسی لاری په ډېر حکېمانه شکل سره پکار اچوی چه هغوی دواجب کار کولو ته تشویق او یاهم اړ کړي.

نهی له منکر څخه دیته وایی چه یو مسلمان که په ټولنه کې ووینی چه دټولنی خلک او یاهم دخلافت مؤسسه دهغه څه مرتکب کېږی کوم چه اسلامی شریعت دهغه څخه نهی کړی وی، او یاهم دهغه دتصرف په نتیجه کې دامت خلکو ته ناجایز ضرر رسیږی، نو دلته هم مسلمان په دی مضرـ او ناجایز سلوک باندی ساکت نه پاتې کېږی بلکه دهغه ناروا کار په ترکولو باندی توصیه کوی او یاهم داسی فشارونه ایجادوی چه دهغه په نتیجه کې مربوط اطراف دهغه مضر او ناروا کار پرېښودلو ته اړ شی.

دمعروف کلمه ټولو هغو ښو کارونو ته شاملیږی چه شریعت په هغه باندی امر کړی دی، که دا کارونه دانسان په فردی ژوندانه پوری اړه ولری لکه لمونځ، روژه، حج، رښتیا ویل..... چه دهغه تطبیق دفرد په سلوک او روش پوری اړه لری، او که دا ښه کارونه په ټولنیزو ګټو او منافعو پوری اړه ولری، لکه په ټولنه کې داسلامی شریعت دعامه احکامو تطبیقول، داسلامي اقتصادي نظام رامنځ ته کول، دملت داساسی ضرورتونو پوره کول، خلکو ته دکار د زمینی پیدا کول، دهغه ټولو ضرورتونو پوره کول کوم چه یوه باعافیته ټولنه دهغه موجودیت ته اړه وی...... چه عموما دا کارونه او ټول د ملی ګټو او منافعو حمایت او ساتنه د خلافت د مؤسسی (حکومت) وظیفه ده، مسلمان باید هڅه وکړی ترڅو ټول هغه لازمی او واجب کارونه چه دفرد او یاهم دولت په غاړه ایښودل شوی دی عملی کړی، ټولنه په مجموعی شکل سره داسی وهڅول شی چه خپل مسؤولیتونه په سم شکل سره اداء کړی، او دټولنی افراد دهمدی هدف په خاطر باید ټولی هغه مناسبی او مؤثری لاری چاری پکار واچوی، ترڅو ټولنه خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړی، په فردی شکل سره هم فرد او هم دولت خپلو وظایفو ته متوجه کړی، دمنبر له لاری درسنیو له لاری دکتاب او لیکنو له لاری............ خپله دتوصیی کولو وظیفه ترسره کړی، حقایق واضح کړی، او په ټولنیز حرکت کې غلطی او ناروا تصرفات برملا کړی، خودیته باید فرد متوجه وی چه دتوصیی وظیفه او دناوړه تصرفاتو برملا کول دشخصیتونو دتجریح سره فرق لری، او چاته هم جایزه نده چه د د ی لاری دخلکو په آبرو او حیثیت باندی تجاوز وکړي، او یاهم ددی لاری څخه دخلکو نه انتقام واخلی او یاهم خپل سیاسی حریفان ددی لاری څخه په ملت کې رسوا کړي.

فردي تلاش او هڅه دامر بالمعروف او نهی له منکر په مجال کې خو مفیده ده اما دټونیز حرکت داصلاح لپاره پکار ده چه داسی ټولنیزی مدنی مؤسسی په ټولنه کې جوړې شی، چه په قوت سره ټولنه دخیر او ترقی طرف ته توجیه، رهنمایی او دضرورت په وخت کې د مناسب او مؤثر فشار د واردولو په واسطه ټولنه او دټولنی مؤسسات (چه دولت هم په هغه کې شامل دی) سمی خواته بوزی، او دا ټولنیز فکری اصلاحی حرکت مسلمانان دامر په معروف دوظیفی په هکله وپوهوی او هغوی په ټولنیزو مدنی مؤسسو کې داسی سره منظم او بسیج کړی چه په مؤثر شکل سره دولت دملت په اړه خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړی، او داسی فشارونه ایجاد کړی شی چه دټولنی ټول مؤسسات دخپلو مسؤولیتونو اداء کولو ته مجبور کړی شی.

له منکر څخه دنهی او منع کولو په مورد کې هغه پورته خبره باید وکړم،کومه چې می دامر بالمعروف په هکله وکړه، له منکر څخه نهی او منع کول هم دافرادو په ژوند کې دشریعت داحکامو څخه تخطیو ته شاملیږی او هم ټولنیزو تخطیګانو ته شاملیږی کوم چه غالبا دولت دهغه مرتکب کېږی.

امر په معروف او نهی له منکر څخه په دی پورته شامله معنی باندی یو سیاسی فعالیت دی، چه اسلامی شریعت دټولو مسلمانانو په غاړه ایښی دی، په ټولنه کې هیڅوک دهغه نه مستثنی نه دی ښځه او نارینه ټول په هغه باندی مکلف دی او هغه یو شرعی واجب او مکلفیت دی، په شریعت کې هیڅ داسی دلیل نه شته چه ښځه ددې سیاسی فعالیت نه سبکدوشه او ګوښه کړي، بلکه په قرانکریم کې صریح آیت په دی دلالت کوي چه امر په معروف او نهی له منکر څخه دنارینه او ښځی دواړو

---

[1] وګوره: اسماء بنت محمد احمد زیاده ( دور المرأة السیاسی فی عهد النبی والخلفاء الراشدین) دار السلام، اوله طبعه، ۲۰۰۱م، ص: ۹۸.

مکلفیت دی الله پاک فرمایی: (وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ )[1] ترجمه: مؤمن نارینه او مؤمنی ښځی یو دبل دوستان دی په نیکیو امر کوی او له بدیو څخه نهی کوی.

په دی آیت شریف کې په صراحت سره دا راغلی، چه نارینه او ښځه دواړه دامر بالمعروف او نهی له منکر وظیفه په غاړه لری، خو دلته باید ددی مطلب تذکر وکړو چه نن ورځ د ډیرو مسلمانانو په اند امر بالمعروف او نهی له منکر دسیاست له میدان سره اړخ نه لگوی، بلکه امر بالمعروف او نهی له منکر دافرادو دفردی او شخصی مسؤولیتونو سره تړاو لری، مثلا ددی سره کار نه لری چه آیا دولت خپل هغه وظایف په سم شکل سره ترسره کوی کوم چه دملت سره یی دهغه ژمنه کړی دی؟ آیا دولت دملت پانگه او دارایی دملت دمشکلاتو دحل او اسلامی ټولنی دپرمختگ لپاره په مناسب شکل سره مصرفوی؟ آیا اداری فساد (خپلولي پالل، دملت د شتمنۍڅخه سوء استفاده، دوظیفی دصلاحیتونو نه ناوړه گټه) په دولت کې وجود لری؟ ددی خلکو په اند په دی شیانو (دحکومتداری په کارونو) کې مداخله کول په امر بالمعروف پوری اړه نه لری، بلکه امر بالمعروف په دی پوری اړه لری چه که څوک لمونځ ونه کړی، او یاهم روژه نه نیسی نو هغه په دی مجبور کړاي شي، چه دا شرعی واجبات ترسره کړی او ترک یی نه کړی، او د اسلامی شریعت ددی مهم او اساسی ارزښت دناسم فهم او ناقصی پوهی سبب دادی چه دتاریخ په اوږدو کې دمسلمانانو په اوږو بار استبدادی نظامونو همیشه دا غوښتی چه دخلکو تدین او اسلامی احساس او شعور فردی واجباتو او مکلفیتونو خواوو ته کښ کړی، او اجتماعی مسؤولیتونه چه اکثره یې سیاسي مسؤولیتونه دي د مسلمان د دیانتی ژوند څخه وباسي، استبداد هر وخت غوښتی چه په اسلامی ټولنه کې څوک هم باید په دی کې خبره ونه کړی چه آیا دهغه قدرت او حکومت مشروعیت لری او که نه؟ یعنی آیا هغه په زور باندې قدرت او واک تصاحب کړی او که دخلکو په خوښه هغه قدرت او واک ته رسیدلی دی؟ آیا دهغه تصرفات دملت دمنافعو او گټو ساتونکې دی او که هغه دملت پانگه په خپلو شخصی هوسرانیو او هوسپالنې باندې مصرفوی؟ آیا هغه دملت دمشکلاتو د حل په اړه مناسب اقدامات کړي دي؟ استبداد غوښتي دي، چه دا نوموړې ساحه دامر بالمعروف او نهی له منکر (احتساب) له ساحې نه په بشپړه توگه وباسي، او استبداد ددې له پاره چه دخلکو په سترگو کې ایرې وشیندي نو د امربالمعروف اداره جوړوي او هغوی بیا په کلو، بانډو او بازار کې دافرادو د شخصی مسؤولیتونو په هکله امر بالمعروف او نهی له بدو کارونو نه کوی، که څه هم دا کار په خپل ځای کې مهم او ضروری دی او افراد باید په خپل شخصی ژوندانه کې داسلامی شریعت داحکامو رعایت ته متوجه شی، اما داسلامی شریعت هغه تمدنی ارزښتونه چه د باعافیته ټولنی درامینځ ته کیدو سبب کیږی، هغه دخپلی شاملی او هراړخیزی محتوی نه فارغول داسلامی ټولنی دپس پاتی کیدو سبب گرځی، او اسلامی ټولنه بیا نه شی کولای په انسانی معاشرت کې خپل قیادی، لارښود او دلوړ لاس حیثیت ولری، او دامر بالمعروف او نهی له منکر دارزښت دساحې محدودول داسلامي ټولنو د انحطاط یو اساسي عامل او سبب دی.

الله پاک همدارنگه فرمایی: (كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ )[2] ترجمه: تاسې بهترین او غوره امت یې، چه دخلکو لپاره را ایستل شوي یي، چې په ښو کارونو امر کوی او له بدو کارونو نه نهی کوی او په الله باندې ایمان لری.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (والذی نفسی بیده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنکر أو لیوشکن الله أن یبعث علیکم عقابا منه ثم تدعونه فلا یستجاب لکم)[3] ترجمه: زما په هغه ذات قسم دی چه زما نفس دهغه په لاس کې دی یابه په نیکیو امر کوی او له بدیو به نهی کوی او یا به نږدی وی چه الله پاک به تاسې ته عقاب درکوي او بیا به دعا کوي او هغه به نه قبلیږي.[4]

په اسلامي شریعت کې دنصیحت ارزښت هم دامر بالمعروف او نهی له منکر په شان یو شمولی ارزښت دی چه دژوندانه ټولی خواوی دربر نیسی، او دعامه شأن په اړه نصیحت کول او دعامه منافعو دساتلو په اړه نصیحت کول دسیاسی عمل جزء دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم دنصیحت دشمولیت په هکله داسی وایی: ( الدین النصیحة، قیل لمن یارسول الله؟ قال: لله ولکتابه ولرسوله ولأئمة المسلمین وعامتهم)[5] ترجمه: رسول الله صلی الله وویل: دین نصیحت دی، ورنه پوښتنه وشوه: دچا لپاره نصیحت دی یا رسول الله؟ هغه وویل: دالله لپاره، دهغه دکتاب لپاره، دهغه درسول لپاره، دمسلمانانو دامامانو لپاره او دټولو مسلمانانو لپاره.

له همدې ځایه ده، چه شریعت مسلمان حاکم دیته ترغیب کړی دی چه ښه او نیک کسان خپل مشاورین او سلاکاران وټاکې ترڅو دوی حاکم او د ټولنې سیاسي مشرتابه ته ښی او نیکې مشوری ورکړی، او هغوی ښی لاری ته تشویق کړی او له بدو کارونو څخه یې وساتي، هغوی د ظلم، بی عدالتیو او نورو بدو کارونو عاقبت ته متوجه کړی.

په صدر اسلام کې مسلمانانو د مسلمانانو دامور و په هکله دمسؤولیت احساس کاوه، او داموږو دسموالی په اړه یی خپله ونډه اخیستله، صحابه کرامو حتی درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم دهغه دتصرفاتو په هکله پوښتنه کوله، لکه څرنگه چه بعضو انصارو درسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه په څه سبب یی

---

[1] دتوبی سورت، ۷۱ آیت.

[2]دآل عمران سورت، ۱۱ آیت.

[3] ترمذی روایات کړی، دحدیث شمیره: ۲۱٦۹.

[4] دلته باید دا بیان کړم چه دشریعت عمومی پیغام نارینه او ښځو دواړو ته شاملیږی، اودغه پورته دوه دلایل دامر بالمعروف او نهی له منکر دوجوب په هکله دمذکر په صیغه باندی راغلی چه دشریعت احکام عموما په همدی صیغه باندی راغلی، او که چیری دهغه څخه ددلیل په واسطه ښځی نه وی مستثنی شوی، نو نارینه او ښځی دواړه په هغه کې شاملیږی، په دی هکله دام سلمه رضی الله عنها پوهه او خبره ډیره واضحه ده هغه وایی چه موږ هم دخلکو څخه یو او د (الناس) په جمله کې داخلیږو او کله چه خلکو ته کوم امر وی ښځه دهغه په عموم کې شاملیږی او فاطمه بنت قیس هم په دی هکله وایی ( زه جومات ته دخلکو په جمله کې لاړم) او دنارینه وو سره می دامام نداء ته لبیک وواېه. پدی هکله وگوره: عبدالحلیم ابو شقه، دښځی آزادی درسالت په عصر کې (تحریر المرأة فی عصر الرسالة) دوم جزء ( دښځی مشارکت په اجتماعی ژوندانه کې) دار القلم، اوله طبعه، ۱۹۹۰م، ص: ۴۴۱، او وگوره: یوسف قرضاوی، من فقه الدولة فی الاسلام، دریمه طبعه، ۲۰۰۱م، دار الشروق، مصر، ص: ۱٦۱-۱٦۴.

ابن حزم رحمه الله هم پدی هکله وایی: ( ددی په اساس چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نارینه او ښځو ته یو شان مبعوث شوی، نو دی الله پیغام او دهغه دپیغمبر پیغام هغوی ته یوشان دی او جایزه نه ده چه دا پیغام تنها نارینه وو ته خاص کړای شی او ښځی ترینه وایستل شی، مگر داچه په دی هکله یاهم نص او یاهم اجماع وجود ولری، ځکه دا دظاهر تخصیص دی چه جایز ندی). وگوره: علی ابن احمد ابن حزم ظاهری، الاحکام فی اصول الاحکام، دار الآفاق الجدیدة، ۳۳۷/۳.

[5] دا حدیث مسلم په خپل صحیح کتاب کې د(الدین النصیة) تر باب لاندی روایت کړی، دحدیث شمیره: ۵۵.

غنیمت دمهاجرینو تر مینځ وویشه او انصارو ته یی په هغه اندازه غنیمت ورنه کړ؟ له ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دی: کله چه رسول الله صلی الله علیه قریشو او نورو عربی قبایلو ته دحنین دغزا نه وروسته کوم بخششتونه ورکړل هغه رنګه یی انصارو ته ورنه کړل، نو په انصارو باندی داکار سخت تمام شو او ددوی په مینځ کې په دی هکله خبری ډیری شوی، تر دی چه چا ددوی له جملی څخه وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل قوم سره یوځای شو، پدی کې وو چه سعد بن عباده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویی ویل: تاچه کوم غنیمت مهاجرینو ته ورکړ دا په انصارو باندی سخته تمامه شوی، تاسی خپل قوم او عربی قبایلو ته چه کوم غنیمت ورتقسیم کړ، انصارو ته هغومره نصیب ونه رسید، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ستا موقف څه دی؟ عباده وویل: یارسول الله زه هم دخپل قوم یو نفر یم.....[1]

دراشده خلافت په وخت کې هم مسلمانانو دعامه شأن په هکله مثبته ونډه اخیستله او له امر په نیکېو او نهی له بدیو څخه یی دریغ نه کاوه، دعمر رضی الله عنه په وخت کې کله چه هغه ته څه جامی هدیه شوی، نو هغه جامی عمر رضی الله عنه وویشلی، هرچا ته یو کمیس ورسید، او عمر رضی الله عنه کله چه منبر ته پورته شو نو دوه ټوټې جامی یی په ځان وی، عمر رضی الله عنه ته سلمان رضی الله عنه جګ شو او ورته ویی ویل: موږ ستا فرمانبرداری نه کوو، عمر رضی الله عنه ورته وویل: ولی؟ هغه وویل: موږ ته دی دجامو یوه یوه ټوټه وویشله خو تا دوه ټوټې اغوستی دی، عمر رضی الله عنه ورته وویل: ته عجله مه کوه، نو بیایی خپل زوی عبدالله تا ناری کړی، او ورته ویی ویل، په الله دی ستا قسم وی چه دا جامه چه ما ازار ورنه جوړ کړی دا ستا دی؟ هغه ورته وویل: الله شاهد دی چه هغه زما دی، دی وخت کې سلمان وویل: اوس نو ستا اطاعت او فرمانبرداری کوو.[2]

داسلام دبرم او عزت په مرحله کې عامه مسلمانانو دخپل حکومت په اړه خپله دنصیحت وظیفه اجراء کوله او دخلافت دمؤسسی رقابت او څارنه یی کوله، او که به دوی داسی څه ولیدل چه هغه دخلافت دمؤسسی دوظایفو او مسؤلیتونو سره سر نه خوری او هغه سره سمون نه لري، نو په هغه یې سکوت نه کاوه، او دخلافت د مؤسسې څارنه، په هغه باندې انتقاد کول، هغه سمې لارې ته بلل، هغه خپلو خطاګانو او تیروتنو ته متوجه کول، هغه منل شوی سیاسي چلند او مکلفیت وو چه دامت د افرادو په سیاسی شعور او پوهی کې یی ځای نیولی وو، او راشده خلافت امت ته هم همداسی روحیه ورکوله، هغوی خپل رعیت ته ویل، کله چه موږ په سمه لاره روان وو، نو موږ سره به همکاری کوی، زموږ اطاعت به کوی، ترڅو هغه مقاصد تحقق ومومی کوم چه دخلافت مؤسسه دهغی داداء کولو او اجراء کولو لپاره مینځ ته راغلی، چه هغه ددین دساتنی او ددین په رڼا کې دخلکو دمنافعو حمایت دی، او که چیری موږ دسمی لاری نه کاږه شوو، نو بیا ستاسی وظیفه ده چه موږ سمی لاری ته راولی، تاسی وګوری چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه کله چه خلیفه شوی هغه په خپله خط مشی کې مسلمانانو ته څرنګه خطاب کوی؟: (إني قد وليت عليكم ولست بخيركم، فإن أحسنت فأعينوني، وإن أسأت فقوموني، الصدق أمانة، والكذب خيانة، والضعيف فيكم قوي عندي حتى أريح عليه حقه إن شاء الله، والقوى فيكم ضعيف حتى آخذ الحق منه إن شاء الله، لا يدع قوم الجهاد في سبيل الله إلا ضربهم الله بالذل، ولا تشيع الفاحشة في قوم قط إلا عمهم الله بالبلاء، أطيعوني ما أطعت الله ورسوله، فإذا عصيت الله ورسوله فلا طاعة لي عليكم)[3] ترجمه: زه په تاسی ګومارل شوی یم اما ستاسی نه غوره نه یم، که ما ښه کول نو ماسره همکاری او کمک وکړی، که ما بد وکړل نو ما سم کړی او سمی لاری ته می راولی، رښتیا ویل امانت دی او دروغ ویل خیانت دی، ستاسې ضعیف انسان ما ته قوی دی ترڅو هغه ته دالله په اراده دهغه حقوق اعاده کړم، او ستاسی قوی انسان ماته ضعیف دی ترڅو دهغه نه حق دالله په اراده بیرته واخلم، هیڅ قوم دالله په لاره کې جهاد نه پریږدی مګر دا چه الله پاک دوی ته ذلت ورکړی، په هیڅ قوم کې فحشا نه شایع کېږی مګر دا چه په دوی کې مرضونه انتشار مومی، زما اطاعت وکړی تر څو چه دالله او دهغه درسول اطاعت کوم او که ما دالله او دهغه درسول نافرمانی وکړه نوزما اطاعت په ستاسی باندی لازم نه دی.

دا پورته دلایل ټول پدی دلالت کوی چه د ښی حکومتداری لپاره هڅه یوه اسلامی دنده ده، او دادنده دامر بالمعروف او نهی له منکر او نصحیت دارزښتونو په عملی کولو سره ژوندی کېږی، او دهر مسلمان دا وظیفه ده چه هغه دحکومت دتصرفاتو مراقبت او څارنه وکړی، په ښو کارونو کې ورسره همکاری او تعاون وکړی اما کله چه وینی چه دمسلمانانو منافع دخطر سره مخ دی او حکومت دهغه په هکله نادرست تعامل کوی نو بیا باید هغه ساکت پاتی نه شی او په خپل ټول توان سره دحکومت دناوړه تصرفاتو او کړنو مخه ونیسی، او دا کار دټولنی دغړو فقط حق ندی، بلکه دا واجب دی او داکار دشریعت دلحاظه ضروری دی، دا هغه رنګه حق ندی چه انسان کولای شی هغه وکړی او کولای شی دهغه نه تیر شی، بلکه دا مکلفیت دی چه په نه کولو سره، یو مسلمان شرعی وظیفه پریښی ده، او هغه ګنهګار ګڼل کېږی.

دنصیحت او امر بالمعروف او له منکر څخه نهی کول تنها دنارینه وو وظیفه نده بلکه دا دنارینه او ښځو مشترکه وظیفه ده، او دشریعت امر دواړو ته متوجه دی، او ددی کار تنها نارینه وو ته متوجه کول ددین داحکامو په اړه نادرست او ناسم تفسیر دی، او ددی ناسم تفسیر په نتیجه کې ښځه دټولنی دجوړښت او دهغه په مثبتو تحولاتو کې د ونډې اخیستلو نه محرومه شوی ده، او دفتتنی تر عنوان لاندی اکثره دخیر او ټولنی جوړونی مجالونه په ښځه باندی تړل شوی، او ددی کار څخه داسلام دښمنانو ډیره ناوړه ګټه پورته کړی ده، او له همدی ځایه ده چه دښځو دحقوقو او یاهم آزادیو په نوم باندې ځینې مؤسسات جوړ شوی، او داسې اند او فکرکوی،چه ښځې په اسلامي ټولنو کې دډیرو آزادیو او د ټولنیزو فعالیتونو څخه محرومې پاتې شوې، او دا مجهول اطراف غواړي چه له دې لارې ملامتیا په دیني او اسلامي فکر باندې واچوي او له دې لارې داسلام دین په دې هکله محاکمه کړي، ددوی دا کار مغرضانه دی، ځکه دا خبره خو ټولو ته معلومه خبره ده، چه په اسلامي ټولنو کې چه کوم محدودیتونه په ښځه باندې رامینځ ته شوی هغه د رواج، عنعناتو او دودونوپه نتیجه کې مینځ ته راغلي او د اسلام آزادي بخښونکی دین په هغه باندې امر ندی کړی، حتی د ډیرو هغو حقوقو نه محرومه شوې کوم چه اسلام هغوی ته ورکړی، دمثال په شکل سره دمیراث حقوق دي، چه نن ورځ زموږ په افغانی ټولنه کې ښځه په

---

[1] دا حدیث هیثمی په مجمع الزواید کې دانصارو دفضلیت په اړه راوړی دی.

[2] وګوره: ابن الجوزی، اعلام الموقعین عن رب العالمین، دار الجیل، ۲/۱۸۰.

[3] دابوبکر صدیق رضی الله عنه خطبه دغه لاندی منابعو ذکر کړی ده: عبد الملك بن هشام بن أيوب (ت 213هـ): السيرة النبوية، تحقيقعبدالرؤوف سعد، دار الجيل، بيروت، الطبعة الأولى، 1411هـ، 82/6، وأبو جعفر محمد بن جرير الطبري (ت 310هـ): تاريخ الأمم والملوك، دار الكتب العلمية، بيروت، 1407هـ، الطبعة الأولى،238/2، وأبو الفداء إسماعيل بن كثير القرشي (ت 774هـ): البداية والنهاية، مكتبة المعارف، بيروت، 248/5 و310/6 وأبو الربيع سليمان بن موسى الأندلسي (ت 634هـ): الاكتفاء بما تضمنه من مغازي رسول الله والثلاثة الخلفاء، تحقيق د. محمد كمال الدين، عالم الكتب، بيروت، 1997هـ، الطبعة الأولى، 446/2.

غالب ډول سره دهغه نه محرومه شوې، دمیره او خاوند دانتخاب حق، چه تر زیاته حده پورې په زیاتو مناطقو او سیموکې ښځه نکاح کېږی خو هغه بالکل خبره نه وی، تنها او یوازې په شکلی ډول سره دنکاح په نیته کې دوه نفره شاهدان ورلیږل کېږی، تر څو هغه خپل دنفس وکېل وټاکې، او هلته هم یوڅوک په غوږ کې ورته وایي چه د فلاني نوم ورته واخله، اما په حقیقي شکل سره د ښځې رضامندی دمیره او خاوند دانتخاب په هکله وجود نه لری.

د دې لپاره چه په ټولنه کې امر بالمعروف او نهی له منکر په مؤثر او سم شکل سره صورت ونیسی نو پکار ده چه په ټولنه کې ددی کار لپاره داسی ټولنی، نهادونه او مؤسسات جوړ کړی چه هغوی داکار په سم شکل او هراړخیزه توګه سره ترسره کړای شی، په فردی شکل سره خو امر بالمعروف او نهی له منکر ممکن دی او هغه ضروری هم دی، هم په هغه مواردو کې چه په فرد پوری اړه لری، او هم په هغه مواردو کې چه په عامه شأن او عامه امورو (ښې حکومتداری) پورې اړه لري، ترڅو هم افراد په ټولنه کې خپلو مسؤلیتونو او دندو ته متوجه کړی او هم دعامه شأن په هکله مسؤلین او حکومتداران خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړی، هغوی خپلو خطاګانو ته هم متوجه کړی، او په دی خبره باندی هم خلک پوه کړی چه دعامه شأن(حکومتداری) په اړه خطا او په هغه کې سوء تصرف دعامه افرادو په ژوند باندې منفي اغیزی پریږدي، خو فردی تلاش او هڅه په دې مورد او برخه کې خپل پوره تأثیر دټولنې دبهتر بدلون په هکله نه پریږدی، او هغه شرعی مقاصد چه دامر په معروف او نهی له منکر په مشروعیت کې شته هغه په سم شکل سره نه متحقق کېږی، دامر په معروف او نهی له منکر دمشروعیت او دهغه دوجوب څخه مقصد دادی چه په ټولنه کې دافرادو تو جهات او دامت دمؤسساتو توجه او مقصد درست کړی او دهغوی کړنی مثبتی کړی او دخطا، غلطی او ظلم مخه په فردی او ټولنیز ډګر کې ونیسی، دامر بالمعروف او نهی له منکر څخه مطلب داندی چه هر څوک دی قانون په خپل لاس کې ونیسی او ګنهکارانو ته دی جزاء ورکړی، بلکه دهغه نه مطلب دادی چه په حکېمانه شکل سره افراد او مؤسسات او حکومت خپلو وظایفو ته متوجه کړی او داسی مثبت فشارونه ایجاد کړی چه دټولنی حرکت سمی خواته متوجه کړی، او دا کار دفردی تلاش او هڅی دتوان څخه لوړ دی، نو ددی په خاطر باید په ټولنه کې داسی هیکلونه، مؤسسات او ارګانونه مینځ ته راشی چه دټولنو ټولو مؤثرو ارګانونو ته سمه توجه ورکړی، او ددولت دتصرفاتو په هکله د مراقبت او څارنې وظیفه اداء کړی شی، او هغوی خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړی او دضرورت په وخت کې ملی او عمومی فشارونه ایجاد کړی، او دا لاندی ارګانونه دپورته مقصدونو په خاطر کېدای مینځ ته راشی.

- **مهنی، مسلکي او حرفوي اتحادیې:** داتحادیو رامینځ ته کول دامر بالمعروف او نهی له منکر څخه دلویو دروازو څخه یوه دورازه خلاصول دی، داتحادیو درامینځ ته کېدو نه هدف دادی چه دیوی حرفی خلک دخپلو حقوقو څخه په مجموعی شکل سره دفاع وکولای شی، او مهنی او حرفوی اتحادیو ضرورت ځکه کېږی چه نن ورځ نظامونه او حکومتونه دافرادو غږ ته په انفرادی شکل سره غوږ نه نیسی، دیته خو بـه بعضـی واکـداران حـاضر شـی چـه خبره واوری، اما دیته په ډیره سختی حاضریږی چه دچا خبره ومنی، اما که چیرې دیوې حرفې خلک په ټولنیز شکل سره خپل حقوق وغواړی نو دهغوی دی غوښتنی ته به دقدر په سترګه وکتل شی، او که دهغوی غوښتنه ونه منل شی نو دوی کولای شی چه ټولنیز فشار وارد کړی، مسالمت آمیزه مظاهره وکړی، دخلکو عامه ذهنیت برابر کړی او حکومت دیته مجبور کړی چه دهغوی مشروعو او روا غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړی. مثلا که چیری دشهیدانو دیتیمانو مورګانی ټولنه جوړه کړی هغوی کولای شی دخپلو حقوقو نه په سم شکل دفاع وکړی، او که چیری دمصانعو او فابریکو څښتنان اتحادیه جوړه کړی نو هغوی کولای شی چه په حکومت فشار وارد کړی تر څو هغوی ته دصنعت په لاره کې مناسبی آسانتیاوی برابری کړی، او دخامو موادو په هکله چه کوم مشکلات دهغوی په لاره کې خنډ دی هغه پورته کړی.

حرفوی اتحادیې دخلکو دعامه منافعو په هکله هم حمایت کولای شی، هغوی کولای شی چه دمالی او اداری فساد په مقابل کې جدی مبارزه وکړی او په خپلو کاری ساحاتو کې هغه یاهم له مینځه یوسی او یاهم دهغه کچه ډیره راټیټه کړی، دمثال په توګه که چیری دبزګرانو اتحادیې او ټولنی جوړی شی هغوی په هیواد کې دزراعت، مالداری او آبیاری په ساحاتو کې دپرمختګ لپاره زمینه جوړولی شی او هغوی کولای شی دهغه ناوړه تصرفاتو مخه ونیسی کوم چه دبزګرانو دحقوقو او یاهم دبزګری د ودی په اړه صورت نیسی، نن ورځ زموږ په هیواد کې که چیری دبزګری د ودی لپاره څه امکانات ددولت لخوا برابر شی، بیا څه داسی خاین اربابان را پیدا شی چه هغه ټول امکانات په خپل شخصی منفعت سره استعمال کړی او دبزګری د ودی پروګرام همغسی په ټپه ودریږی.

- **ددعوتي منابرو احیاء کول:** ددعوتي منابرو احیاء کول دامر بالمعروف او نهی له منکر او دنصیحت دوظیفی دسرته رسولو لپاره بله دروازه ده، چه ددی لاری باید خلکو ته سیاسی پوهاوی ورکړل شی، او هغوی پدی وپوهول شی چه دخلکو فردی او شخصی ژوند هغه وخت جوړیدلای شی چه دژوندانه چاپیریال سم جوړ او عامه منافع تامین شی.

ددعوتی منابرو له خوا باید خلک دعامه منافعو دتامینولو په هکله هڅی او کوشش ته تیار کړی، او داکار دیو اسلامی مسؤولیت په حیث خلکو ته وپوهوی، نن ورځ ډیرو خلکو دتدین تر عنوان لاندی ددنیا کاروبار پریښی دی او په فردی عباداتو کې داسی ډوب دی چه اجتماعی مسؤولیتونه یی ترشا پریښی دی او هغه ددین او اسلامی مسؤولیتونو په قطار کې نه شمیری، او ځینو بیا دینی مسؤولیتونو ته شا کړی ده او دخپل شخصی مادی ژوند په ښه کولو او دمال په ټولولوکې داسی بوخت دی چه په هغه کې هیڅ نوع اخلاقی قیود او دینی ضوابط نه منی او نه هغه رعایت کوی بلکه خپله شتمنی له داسی لارو زیاتوی چه دهغه په نتیجه کې ټولنی ته ضرر رسیږی او دنورو خلکو په اقتصادی او مالی ژوند باندی منفی تأثیر اچوی، اما داسی متوازنه هڅه په ټولنه کې ډیره کمه ده چه دهغی په نتیجه کې هم خپلو شخصی او عینی عباداتو ته هم توجه وکړی، په هغه کې سستی ونه کړی، او دشریعت دضوابطو په رڼا کې خپل شخصی او مالی حالت ته هم توجه وکړی، او دعامه منافعو دساتلو لپاره هم هڅه وکړی او هغه متضرر نه کړی، او دا کار هم یوه اسلامی دنده او مسؤولیت وبولی، چه دا نوع اسلامی رڼه پوهه باید ددعوتی منابرو لخوا خلکو ته ورسول شی، چه دا خپله دسیاسی حقوقو دپوهاوی په هکله نیغه او سوچه هڅه ده چه داسلام دشمولی او تمدنی فهم په نتیجه کې مینځ ته راځی.

- **د تشریعي او تقنیني مجالسو فعالول:** کوم تشریعي او تقنیني مجالس چه دملت نمانـدګي او استازیتوب کـوي او هغـوی دهیـواد قـوانین جـوړوی او په اجرایوی ارګان باندې دمراقبت او څارنې حق او صلاحیت لري، هغوی کولای شی چه دامر بالمعروف او نهی له منکر څخه وظیفه په ښه شکل سره ترسره کړی، هغوی کولای شی دنصیحت وظیفه هم په ښه شکل سره ترسره کړی، دوی دحکومت پلانونه او برنامی تر غور لاندی نیولی شی او کولای شی په هغه کې سمون راولی او ددی نه متأکد شی چه دا پلانونه او برنامی دملت منافع تأمینوی او هغه ساتی، او که چیری په هغه کې کمبودی او نواقص موجود وی هغه پوره کړی، او ښځه پدی اړه خپل رول په سم شکل سره اداء کولی شی.

- **دتحقیقاتي مراکزو تأسیس:** ټولنه په خپل تمدني حرکت کې هغه تحقیقاتی مراکزو ته کلک ضرورت لري، کوم چه په امانت داری او واقعیتونو بنا تحقیقات ټولنې ته وړاندې کړی، په هغه کې دټولنی دضرورتونو دپوره کولو او تهیه کولو په هکله دټولنی دمؤسساتو او ارگانونو اداء معلومه کړی، چه د ټولنی دامکاناتو په تناسب سره آیا دټولنی ضرورتونه دژوندانه په ټولو خواوو کې پوره شوی؟ او که په هغه کې کمبود، نیمگړتیا او نواقص شته؟ دټولنی د اداء او فعالیت په هکله هراړخیز واقعی معلومات چه په ارقامو او احصائیاتو باندې ولاړ وي، ټولنې ته وړاندې کړی، دا مراکز له یوې خوا ټولنه د خپل تمدني حالت نه خبره کړی، ترڅو هغوی پوه شی چه د نورو بشري ټولنو پرتله دتمدن په کوم حالت کې قرار لري؟ او له بلی خوا ټولنې ته هغه موارد او نقاط په گوته کړی کوم چه دوی ته یې د داخلي او یاهم بین المللی ضرورتونو د په نظر کې نیولو سره، دهغه کول پکار دی، له دی ځایه ده چه تحقیقاتی مراکز دتمدنی امر بالمعروف او نهی له منکر وظیفه تر سره کوی، دوی هم حکومت او هم ملت ته لارښوونه کوی او هغوی ته دفعالیت او توجه نقاط واضح کوی، او هغوی دآینده په هکله خطراتو،گواښونواو چلنجونو ته متوجه کوی، چه دوی په دی لحاظ دکفایی واجباتو او اجتماعی مسؤولیتونو دتطبیق لپاره لاره آواروی، او له دی لاری کېدای شی چه دټولنی دآینده او راتلونکې لپاره دښو پلانونو دجوړولو لپاره کمک شی، خو دا په دې شرط سره چه تحقیقاتي مراکز دعقب ماندگی او وروسته پاتی کوونکو امراضو او نارغیونه وساتل شی، کوم چه اکثر تحقیقاتی مراکز په اسلامي عالم کې په هغه گرفتار دی، هغه مراکز چه ټولنی ته دټولنی واقعیتونه نه منعکس کوی او تنها غواړی چه دحکومت فعالیتونو ته زینت جوړ کړی او هغه دخپل وزن او قیمت نه پورته وښیی، او داسی مراکز په ځای ددی چه دخپلی ټولنی واقعیتونه خلکو ته په ربښتینولی سره منعکس کړی، حقایق تحریفوی او ټولنی ته دوکه ورکوی، دټولنی دتأسف او پسمانی حالت خلکو ته د اداء، پرمختگ او افتخار حالت معرفی کوی، دداسی مراکزو د وجود نه دهغه نشتوالی بهتر دی، اما دحقیقی تحقیقاتی مراکزو شتون یو دینی واجب او ملی ضرورت دی.

دتحقیقاتو دمراکزو جوړتیا تنها دنارینه وظیفه نده بلکه ښځه هم دنارینه ترخوا دا مسؤولیت لری، بالخصوص په هغه موارد کې چه دښځو په حقوقو او یاهم دهغوی دسیاسی او اجتماعی پوهاوی دلوړتیا پوری مربوط وی، او په هغه کې دښځو دحالت څخه خبریدل پکار وی، نو ښځو ته پکار ده چه پدی هکله دټولنی خدمت وکړی، او له دی لاری دټولنی په جوړتیا او پرمختگ کې کمک شی.

**دریم: شوری**

تعریف: شوری دیته وایي، چه څه کسان د یوې موضوع په اړه راټول شي او خپل نظرونه دموضوع په هکله ووایی او دموضوع مختلف اړخونه واضح شی تر څو دهغه په نتیجه کې دمناسبی تصمیم گیری لپاره لاره آواره شی، او یاهم شوری دیته وایی چه اهل خبره او په یوه موضوع کې وارد کسان دموضوع په هکله را ټول شی او دهغه موضوع په اړه خپل دقیق نظریات یو د بل سره شریک کړی او په نتیجه کې حق ته نږدی تصمیم نیولو ته ورسیږی.[1]

شوري داسلامي سیاست له اساساتو څخه ده او قرآن کریم هغه داسلامی ټولنی له خصوصیاتو څخه بللی ده الله پاک فرمایی: (وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ)[2]ترجمه: ددوی کارونه دشوری په نتیجه کې فیصله کېږی. او قرآن کریم مسلمان حاکم ته امر کړی چه د مسلمانانو د امورو او کارونو په اړه مشوره وکړی، الله پاک فرمایی: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ)[3] ترجمه: ددوی سره دامورو په هکله مشوره وکړه.

مسلمانان په مجموع کې دشوری اهلیت لری، نارینه وی او ښځه، دی پورته دلایلو کې ښځه دمشوری نه نه ده مستثنی شوی، او کله چه شرعی وجایب د عموم په صیغه سره ذکر شی نارینه او ښځی دواړه په هغه کې شاملیږی، خو دا اهلیت دمشوری دموضوع په هکله فرق کوی، یو نفر دیو شی په هکله معلومات لری او دهغه په هکله مشوره ورکولای شی او بل څوک دبلی موضوع په هکله، چه ښځی هم ددی اهلیت په بنا یو دبل سره فرق کوی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې په ډیرو مواردو کې دښځو څخه مشوره اخیستل شوی ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به دښځو وفود خپل حضور ته منل او هغوی به دښځو متعلقه امور درسول الله صلی الله علیه وسلم سره مطرح کول، او د ام المؤمنین ام سلمه[4] رضی الله عنها د مشوری په اساس دحدیبیی دصلحی دتړون په ورځ، الله پاک مسلمانان دلویی نا فرمانی څخه خلاص کړل، امام احمد په خپل مسند کې روایت کوی، کله چه په حدیبیه کې درسول الله صلی الله علیه وسلم او دقریشو دمشرکېنو تر مینځ صلح وشوه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته وویل: خپلې هدیې ذبح کړي او خپل سرونه وخریی، نو هیڅوک ونه پاڅیدل، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته خپل امر تکرار کړ اما هیڅوک ونه پاڅېدل، او د دریم ځل لپاره هم دا غوښتنه تکرار شوه اما هیڅوک ونه پاڅېدل، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام سلمه خیمې ته ننووت او ویی ویل: یا ام سلمه دا صحابه څه کوي؟ ام سلمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: تا ولیدل چه دمکې نه د دوی منع کول په دوی ډیر سخت تمام شوي، دوی ته هیڅ مه وایه، خپله دخپلې هدیې طرف ته ورشه او هغه ذبح کړه، او بیا خپل سر وخرییه، او کله چه ته داکار وکړی نو ټول صحابه به داکار وکړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم دام سلمه خبره خوښه شوه،او له خیمی چه ووت، هیچا ته یی څه ونه ویل تر څو چې خپلی هدیې ته ورسید او هغه یی ذبح کړله، بیا کښیناست او خپل سر یې وخرییه، نو صحابه رضوان الله علیهم پاڅیدل او خپلی هدیې یې ذبح کړلې او خپل سرونه یی وخرییل.[5] ابن حجر وایی: دام سلمه رضی الله عنها رایه دحدیبیی په ورځ موفقه او مشوره یی مبارکه وه، چه دهغه دعقل په کمال او دهغه درایې په صواب باندې دلالت کوي.

په راشده خلافت کې عمر رضی الله عنه به هم دښځو سره دامورو په هکله مشوره کوله، ددی جملی څخه، کله چه عمر رضی الله عنه دشپی له طرفه دمدینی منوری په ښار کې دخپل رعیت دحال نه دځان خبرونی په خاطر دمدینی دکورونو په خوا کې گذر کاوه چه دیوی ښځی شکایت یی دخپل میړه دغیابت له کبله واورید،

---

[1] دشوری دتعریف په هکله لاندی منابع وگوره: عبدالرحمن عبدالخالق، شوری داسلامی حکومت تر سیوری لاندی( الشوری فی ظل الحکم الاسلامی) ۱۹۷۵م سلفی مطبعه، کویت، ص:۴، او احمد عبدالله عوضی، په اسلامی شریعت کې درعیت سیاسی حقوق او دوضعی نظامونو سره دهغه مقایسة (الحقوق السیاسیه للرعیة فی الشریعة الاسلامیة مقارنا بالنظم الوضعیة) په مقایسوی فقه کې دماستری رساله، چه داحمد علی ازرق تر سرپرستی لاندی لکېل شوی چه په ۱۹۹۴م کال کې دامدرمان اسلامی پوهنتون ته وړاندی شوی، ص: ۱۷۳.

[2] د الشوری سورت ۳۸ آیت.

[3] دآل عمران سورت ۱۵۹ آیت.

[4] د ام سلمه رضی الله عنها نوم هند وو چه دسهیل لور وه او په ٦٢ هجری قمری کال کې وفات شوه.

[5] دا حدیث ابن ابی شیبه په خپل مصنف کې راوړی دی، دحدیث شمیره: ۳۸۰۱۰، او علاء الدین ابن حسام الدین فی کنز العمال کې دحدیث شمیره: ۳۰۱۵۴ او حدیث ۱۲۸۲۱، او امام بیهقی فی سنن کبری کې، دحدیث شمیره: ۹۸۵۷.

نو کله چه کور ته راغی دحفصی رضی الله عنها نه یی وپوښتل چه یوه ښځه څومره موده دخپل میړه دغیابت صبر لری؟ هغی وویل چه شپږ میاشتی او یاهم څلور میاشی (روایت کوونکې په شک کې وو) نو عمر وویل چه لښکریان به ددی نه په زیاته موده کې په لښکر کې ونه ساتم، او امر یی وکړ چه لښکریان باید دشپږو میاشتو نه زیات دکور نه لیری تیره نه کړی، یوه میاشت به یی په تگ کې لگیږی، یوه میاشت یی په راتگ کې او څلور میاشتی به په غزا باندی بوخت وی.[1]

عمر ین خطاب رضی الله عنه چه کله زخمی شو او هغه دا احساس کړه چه اجل یی را لنډ شوی نو خپل زوی (عبدالله) ته یی وویل چه عایشه رضی الله عنها ته ورشه او دهغه نه اجازه واخله چه زه (عمر بن خطاب) دهغی په کور کې درسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر رضی الله عنه تر خوا خاورو ته وسپارل شم، او عبدالله بن عمر عایشه رضی الله عنها ته راغی او دعمر بن خطاب رضی الله عنه پیغام یی ورته ورساوه، عایشه رضی الله عنها په ډیر درنښت دا اجازه ورکړه او ورته یی وویل چه عمر ته زما سلام وایه او ورته ووایه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم امت بغیر د راعی(امیر) نه مه پریږده او دوی ته خلیفه خوښ کړه، او دوی دځان نه ورسته بی سرنوشته مه پریږده، زه د دوی تر مینځ دفتنو د رامینځ ته کېدو نه ډاریږم.

ابن کثیر روایت کوی چه عبدالرحمن بن عوف ددریم خلیفه دغوره کولو په اړه په مدینه منوره کې دټولو خلکو نه پوښتنه کوله او دهغوی نظر یی اخیسته، هغه په مدینه منوره کې دښځو نظر هم دخلیفه په اړه اخیست، عبدالرحمن بن عوف دهغه پیغلو نظر هم اخیست، کومی چه هغوی ته دنظر ورکولو څخه حیاء کوله.

ددی ټولو تاریخی اسلامی پیښو او کړنو څخه دا معلومیږی چه ښځه په صدر اسلام کې دمسلمانانی ټولنی دښه جوړښت او دهغه دسرنوښت په مورد کې خپل نظر اظهاراه، او ونډه یی اخیسته، او ښځه چې اوس دکوم محرومیت سره په اسلامی ټولنه کې مخ ده، دا حالت داسلام دنظر سره برابر حالت ندی، او ټولنیزو عادتونو دا حالت په ښځه باندی تحمیل کړی، او ځینو سنتی علماوو همه دهغه تأیید کړی دی، خو دا په هیڅ شکل سره ددی حالت پاتی کېدو ته براءت نه ورکوی، او اسلامی وینی خوځښت ددی حالت پر ضد مبارزه کوی، او په دی اړه دشیخ محمد الغزالی او داکتر یوسف قرضاوی نظریات ډیر دقدر وړ دی، نن ورځ په اسلامی ټولنو کې باید داسلام په رڼا او دشرعی احکامو د رعایت سره سره باید داسی شرایط تیار شی، چه په هغه کې دښځو دعلم او هغوی دنظریاتو څخه دټولنی په جوړولو کې کار واخیستل شی، او دا مطلب ددی غوښتونکې دی چه په معاصره ټولنه کې داسی ټولنی، ارگانونه او مؤسسات جوړ شی چه دښځو شرکت دټولنی دسرنوشت دټاکلو په اړه تنظیم کړی، دهغوی دحقوقو دتأمین لپاره لاره آواره کړی، دهغوی نظرونه دټولنی دعامه منافعو دساتلو په هکله منعکس کړی، هغوی دسیاستونو او تگلارو دجوړیدو په هکله برخه واخلی، په خاص شکل سره دتعلیمی او تربیتی سیستم دجوړیدو په هکله دفامیلی هستی څخه دحمایت په کله، او بالآخره دهغوی عملی ونډه دټولنی د هر اړخیز جوړتیا په هکله ترتیب کړی، او دټولنی دسرنوشت دټاکلو په مورد کې دښځینه عنصر بی تفاوتي او سلبیت ته خاتمه ورکړی، کوم چه د نادرست فهم له کبله اسلام ته دهغه نسبت ورکړل شوی دی، البته دا ټولی هڅی باید په داسی تمدنی روند کې تنظیم شی چه په ټولنه کی دشریعت دمقاصدو دتحقق لپاره لاره آواره کړی او شرعی احکام پکې رعایت شی.

**څلورم: بیعت کول**

تعریف: بیعت دامت او خلیفه ترمینځ هغه سیاسی قرار داد دی چه دهغه په نتیجه کې په خلیفه او امت باندی متبادل او دوه اړخیز حقوق، واجبات او مکلفیتونه مینځ ته راځی.

بیعت په دی معنی هغه اجتماعی قرار دارد دی چه دامت او خلیفه ترمینځ صورت نیسی چه دا قرار داد په دواړو طرفونو باندی مسؤولیتونه او التزامات را مینځ ته کوی، چه باید دواړه طرفونه په هغه باندی عمل وکړی، بیعت په خلیفه باندی دا لازموی چه هغه به دشریعت دمقصدونو او احکامو په رڼا کې دخلکو د عامه منافعو (دخلکو دمنافعو) ساتنه کوی او په دی هکله به صادقانه هڅه کوی او ټولی هغه لاری به پکار اچوی چه دا مقاصد په هغه باندی پوره کېږی، او دا قرار داد په امت باندی دا التزام ایږدی چه هغوی به په ښو کارونو کې دخلیفه اطاعت کوی ترڅو خلیفه وکولای شی په خپله دنده او وظیفه کې کامیاب شی، او که چیری خلیفه دلاری نه کوږ شی نود امت وظیفه ده تر څو دمختلفو لارو نه په استفادی کولو سره خلیفه دی ته اړ کړی چه خپلو مسؤولیتونو ته متوجه شی او دهغه داداء کولو په هکله جدی کړنلاره خپله کړی.

له همدی ځایه ده چه فقط په بیعت کولو سره دامت مکلفیت دخلیفه دانتخاب او ښی حکومتداری دی را رامینځ ته کولو په هکله پای ته نه رسیږی، بلکه دامت وظیفه ده چه دا اطمینان تر لاسه کړی چه دخلافت مؤسسه په سمتوب او ښتیا سره دامت دمنافعو دساتلو په هکله جدی ده، او په دی اړه خپل ټول امکانات په کار اچوی، او دا اطمینان بیا دیوی لحظی لپاره او یا هم دیوی معینی زمانی لپاره ندی لازم شوی، بلکه په همیشه شکل سره دا اطمینان باید موجود واوسی، او ددی همیشنی مسؤولیت غوښتنه داده چه امت باید داسی ټولنی، نهادونه او مؤسسات ایجاد کړی، چه هغه په کامله واقعبینی سره دخلافت مؤسسه تر سترگو لاندی ونیسی دهغه تصرفات او کړنی کنترول کړی او هغه وڅاری، او که چیری دحکومت تصرفات دامت دگټو خلاف وی باید دا ټولنی او ارگانونه وکولای شی دهمدی مؤسساتو له لاری داسی فشار ایجاد کړی چه دخلافت مؤسسه دانحراف نه وژغوری، او هغه سمی لاری ته برابر کړی.

دخلیفه سره بیعت په ټولو مسلمانانو یو شان واجب دی دنارینه او ښځی تر مینځ په دی کې فرق نشته په ښځه او نارینه په دواړو باندی بیعت واجب دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: ( من مات ولیس له إمام مات میتة جاهلیة)[2] ترجمه: څوک چه مړ شی او هغه امام ونه لری( دامام سره یی بیعت نه وی کړی) هغه دجاهلیت په مرگ مړ شوی دی.

نارینه او ښځه دواړه دا مسؤولیت لری چه دمسلمانانو خلیفه هغه څوک وی چه په هغه کې دامانت او قوت دوه اساسی صفتونه وجود ولری، دشریعت په دلایلو کې په هیڅ ځای کې داسی نه دي راغلی چه ښځه ددی مسؤولیت څخه مستثنی وی، ښځه او نارینه دواړه دا مسؤولیت لری چه داسی څوک باید دامت دمشرتابه لپاره انتخاب شی چه هغه دامانت داری ښتن وی یعنی په پوره اخلاص سره دامت دخدمت لپاره قوی عزم ولری، او دا توانمندی او طاقت پکې وی چه دامت منافع او گټی درک کړی، دامت مشکلات او غمونه درک کړی، دهغی دحلولو او هغی ته دحل دلارو چارو په موندلو قادر وی، نارینه او ښځی دواړه دا وظیفه لری تر څو هغه څوک

---

[1] ددی په کله وگوره: عبدالرحمن بن علی بن جوزی، دعمر بن خطاب سیرت (سیرة عمر بن الخطاب) دار الکتب العلمیة، بیروت، ص: ۱۶۴.

[2] دا حدیث ابن حبان روایات کړی دی، دحدیث شمیره: ۴۵۷۳.

دملت دنماندګانو په حیث انتخاب کړی کوم چه دامت په نمانیدګی دامت دمنافعو نه دفاع او حمایت کوی، او هیڅکله هم خپله رأیه او قناعت دخپلو شخصی منافعو په خاطر تغییر او تبدیل نکړی.

**پنځم: هجرت او جهاد**

دمحیط، ماحول او فامیل دمیل خلاف په یوه عقیده باندې ایمان راوړل او بیا دهغه دپلی کولو لپاره هڅه کول او په لاره کې د وطن پرېښودو ته تیاریدل او په جنګی امور کې برخه اخیستل دا ټول په اوسنی او معاصره اصطلاح کې سیاسی عملونه بلل کېږی، او درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ښځو دا ټول کارونه عملی کړی[1]، او هیڅا هغوی ددی کار نه ندی منع کړی، او نه یی هم ورته ویلی چه دا کارونه تنها دارینه کار دی. ښځو چه دا نوع سیاسی عملونه انجامول نو داسلام ددین څخه دهغوی عمیقه پوهه او دهغه په حقانیت باندی دهغوی کلکه عقیده ددی فعالیتونو تر شا ولاړه وه او هغوی یی دی فعالیتونو ته هڅول، او د دوی دغه هڅه پدی دلالت کوی چه سیاسی فعالیت د دین جزء دی او هیڅکله هم ددین او دسیاست تر مینځ بیلوالی داسلام ددین په قاموس کې نشته، او هغه څوک چه غواړی سیاست ددین څخه بیل کړی، هغوی غواړی داسلام ددین څخه یوه اساسی او مهمه برخه بیله کړی، او دسیاست میدان هغه منفعت جویانو ته خالی کړی، چه غیر دخپل انانیت او هوسرانی څخه بل هدف په ژوندانه کې نلری، او دسیاست میدان به ددی په نتیجه کې داخلاقی او ټولنیزو مقاصدو نه یوخالی او تش میدان جوړ شی.

ښځو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې هجرت کړی دی، هغوی قتال (جهاد) کې هم شرکت کړی دی، دمجاهدینو دزخمیانو په تداوی کې یی برخه اخیستی ده او هغوی ته د ځښو داوبو په رسولو او ډودی په تهیه کولو کې یی ونډه اخیستی ده، اسماء بنت عمیس دهغه ښځو له جملی څخه ده چه هجرت یی کړی دی هغه حبشی ته هم هجرت کړی دی او مدینی منوری ته یی هم کړی دی او له همدی کبله هغی ته د دوو هجرتونو ښځته ویل کیږی.[2]

له انس بن مالک نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به ام حرام بنت ملحان ته ورتلو، او یوځل دی وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویده شوی وو، او کله چه را پاځیده نو هغه صلی الله علیه وسلم خندل، ام حرام وایی: ماورته وویل: یا رسول الله ته ولی خاندی؟ هغه وویل: ماته دخپل امت څخه هغه غازیان وښودل شول چه دوی دالله په لاره کې غزا کوی او له بحر څخه تیریږی...... ام حرام وایی چه ما ورته وویل: یا رسول الله ته دعا وکړی چه ماهم ددوی له جملی نه وګرځوی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه ته ددوی له جملی څخه یی، همغه وو چه ام حرام دمعاویه ابن ابی سفیان په زمانه کې په غزا کې له بحر نه پوری وتله، او کله چه پوری وتله نو دخپل آس څخه ولویده او شهیده شوه.[3]

نن ورځ او په اوس زمانه د اعلاء کلمة الله لپاره دجهاد مجالونه ډیر زښت ډیر دی، دا کوششونه که داسلامی ټولنی دتقویت او پرمختیا په هکله وشی، او دظلم او تجاوز مخه ونیول شی، او معلومه خبره ده چه د مسلمانی ټولنی دتقویت او پرمختیا او داجتماعی عدالت دتامین په صورت کې به اسلامی ټولنه پدی وتوانیږی چه داسلام غږ دنړی نورو خلکو ته په ښه شکل سره ورسوی، هغوی داسلام ددین په حقانیت باندی قانع کړی، او پدی یی هم قانع کړی چه داسلام دین په اوسنی عصر کې یوه پرمختللی ټولنه هم په سم شکل سره تنظیمولای شی، دخلکو او وګړو ترمینځ اجتماعی عدالت تامینوالی شی دظلم او ناروا مخه نیولای شی، داټول هغه کارونه دی چه نن ورځ داعلاء کلمة الله لپآره کېدای شی، او ښځه په هغه کې په بشپړه توګه برخه اخیستلای شی.

دټولنی دپرمختګ لپاره کار کول ډیره یوه لویه او وسیعه دایره ده چه دښځو ونډه په هغه کې په مختلفو خواوو کې حتمی او ضروری ده، او دښځو دتوانمندیو او استعدادونو څخه باید په هغه کې کار واخیستل شی، بالخصوص په تعلیم، ښوونه او روزنه، څیړنی او تحقیقات، صحت...... چه په دی رنګه شمولی پوهه سره دټولنی دآبادی لپاره پدی مقصدیت سره کار کول چه ټولنه دخپلو مقاصدو په خوا سم حرکت وکړی، او هغه وظیفی په سم شکل سره انجام کړی کومی چه داسلام مبارک دین دټولنی په غاړه ایښی دی، نو دټولنی په هره برخه کې کار کول جهاد حسابیږی او هغه سیاسی بڼه لری، او هغه عبادت هم دی ځکه چه په هغه کې بیا هڅه او تلاش دهغه وظایفو دښه انجامولو په خاطر صورت نیسی چه الله پاک هغه دټولنی څخه غواړی او دهغه په کولو باندی خوشحاله کېږی. او پدی نوع فهم کې بیا ددنیا او دآخرت تر مینځ تضاد له مینځه ځی او دانسان ټول کوشش او هڅه په ژوندانه کې یو مقصدیت پیدا کوی چه هغه دالله جل جلاله درضامندی او ټولنی دخدمت څخه عبارت دی. دټولنی هغه خدمت، کوم چه الله پاک په هغه باندی امر کړی دی، او ښځه پدی ټولو کارونو کې دنارینه تر خوا مساویانه مسؤولیت لری، البته دهغه ځانګړتیاوو په نظر کې نیولو سره کوم چه نارینه او ښځه یی لری، او دا ځانګړتیاوی بیا خپل وظیفی تأثیرات دنارینه او ښځی په کار اوفعالیت باندی هم پریږدی.

دغه پورته تصور هغه ددنیا او آخرت ترمینځ جلا والی کاملا له مینځه وړی کوم چه په اوس وخت کی دډیرو مسلمانانو په عقلیت باندی حاکم دی، یاهم دهغوی په اند انسان باید دآخرت لپاره ژوند وکړی چه هغه به بیا ددنیا په کار او بار پسی هومره نګرځی، او یا به هم ددنیا په کاروبار پسی پښی لوڅوی او بیا دهغه نه څوک ددین دکار پوښتنه نه کوی، اما داسلام په حقیقی مفهوم کی ددنیا او دآخرت د ودانولو ترمینځ هیڅ تضاد نه شته، بلکه اسلام مسلمانانو ته امر کوی چه خپله دنیا او آخرت دواړه آباد کړی، او خپل آخرت ددنیا دعمران او آبادی له لاری جوړ کړی، نه هم د دنیا دویرانولو له لاری.

**خلورم مطلب**

**کفایي واجبات او سیاسی حقونه**

**اول: دکفایي واجباتو تعریف**

کفایي واجبات هغه دیني الزامي غوښتنې دی چه دهغه په اداء کولو دټولنی ټول افراد مکلف دی، او که چیری هغه په ټولنه کې څوک په پوره شکل سره اداء کړی نو دنورو افرادو څخه د اداء کولو مسؤولیت پورته کېږی، اما که هیڅوک هم هغه اداء نکړی نو دټولنی ټول مکلف افراد ګنهکار کېږی، لکه مړی ته غسل ورکول، هغه ته کفن جوړول او دهغه دفن کول، دا ټول کفایي واجب دی که چیری دا کار ترسره شو نو دټولنی دنورو خلکو نه د اداء کولو غوښتنه پورته کېږی، اما که چیری دا کار ونه

[1] امام بخاری رحمة الله علیه د (باب غزو النساء وقتالهن) تر عنوان لاندی باب جوړ کړی، او سمیه رضی الله عنه داسلام اولینه شهیده وه چه داسلام په لاره کې یی خپله روح ورکړه. وګوره: یوسف قرضاوی، من فقه الدولة فی الاسلام، ص:۱۶۴.

[2] عبدالحق الاشبیلی، الأحکام الشرعیة الکبری، ۲۰۰۱م ،مکتبة الرشد، عربستان سعودی، باب فضل اصحاب الهجرتین.

[3] دا حدیث امام بیهقی په سنن کبری کې روایت کړی دی، دحدیث شمیره: ۴۳۸۰.

شو نو ټوله ټولنه ګنهکاره کېږي، همدا رنګه دامر بالمعروف او نهی له منکر وظیفه، دغرق شوی انسان ژغورل، دهغه عامه وظایفو اداء کول چه ټولنه په خپل حرکت کې هغه ته ضرورت لري لکه دخلافت دنده ترسره کول، دقضاء دنده ترسره کول، فتوا ورکول، په ټولنه کې دنوو پیدا شوو مسایلو په هکله شرعی حکم بیانول، ځکه چه ټولنه بې له دغو دندو د اداء کولو څخه سم او باعافیته ژوند نه شی کولای، همدا رنګه دټولنی دضرورت وړ توکې او مواد تهیه کول، دټولنی دضرورت وړ غذایی مواد تیارول، دمریضانو دتداوی لپاره دکافی اندازې ډاکترانو او ددوا موجودیت او داسی نور دټولنی ضرورتونه.........تر دی اندازی چه دټولنی ضرورت پورته شی او ټولنه دنورو خلکو داحتیاج څخه ووزي، او ددی ټولو شیانو تیارول ځکه لازمی او حتمی دی، چه اسلام یوه داسی ټولنه غواړي چه دژوندانه دټولو ضرورتونو په مورد کې خود کفا وی، په خپلو پښو ولاړه وی[1]، اودغیر مسلمانو ټولنو تر برلاسی لاندی نه وی، الله پاک فرمایی: (وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا)[2]، ترجمه: الله پاک کافرانو ته په مسلمانانو باندی برلاسی نه ورکوی. مفسرین پدی هکله چه دالله پاک دا وعده په هغه صورت کې ده چه مسلمانان خپلو ټولو مکلفیتونو ته متوجه شی او هغه عملی کړي، نو دغیر مسلمانانو برلاسی به هم په مسلمانانو باندی ختم شی، او حقیقت هم دادی چه که مسلمانان دخپلې ټولنی ټول ضرورتونه پوره کړي او پردیو ته احتیاج نه وی نو پردی به له کومی لاري پر مسلمانه ټولنه باندی برلاسی ترلاسه کړي[3] او ددی تر خوا عینی واجبات او مکلفیتونه دی کوم چه دهغه په اداء کولو دټولنی ټول افراد مکلف دی، اوکه یو نفر هغه اداء کړي نو دبل چاذمه نه پرې خلاصیږي، او دبل چا څخه نه ساقطیږي بلکه هر فرد باید هغه اداء کړي، او دیته ځکه عینی واجبات وایی چه عین هر سړی په خپله باید هغه اداء کړي، او دهیچا ذمه ترهغه وخته ددی واجباتو داداء کولو څخه نه خلاصیږي ترڅو چه خپله هغه اداء نکړي.[4]

**دوهم: دکفايي واجباتو مقصد او هدف**

په کفايي واجباتو کې شرعي اساسی مقصد او هدف دخلکو دعمومی منافعو او مصالحو ساتل او په سیاسی ، اقتصادی، اجتماعی، عسکری....... ډګرونو کې دټولنی دسم او تمدنی حرکت لپاره دضرورتونو برابرول او تهیه کول دی، لکه دخلیفه او حاکم انتخابول چه په هغه کې دامانت او قوت دوه اساسی صفتونه وجود ولري، ددی پخاطر چه دخلکو تر مینځ عدالت تأمین کړي، او دخلکو منافع داسلامی شریعت داصولو او ضوابطو په رڼا کې وساتی او هغه ته وده ورکړي.

همدارنګه په عامه شأن کې دنصیحت، انتقاد، خطاګانو ته ګوته نیولو مسؤولیت ددی پخاطر دکفايي مکلفیتونو په جمله کې راغلی تر څو دهغه دعملی کولو په نتیجه کې په عامه شأن کې نواقص او کمبودیګانی کمی شی او تصرفات پکې دخلکو دمنافعو سره سر وخوری، او له همدی ځایه ده چه ددی مسؤولیت د سم اداء کولو په خاطر باید په ټولنه کې هغه مؤسسات او ارګانونه ایجاد شی، کوم چه دنصیحت وظیفه دژوندانه په ټولو ساحاتو کې عملی کړای شی، او لکه څنګه چه نصیحت او احتساب په عامه ډګر کې واجب دی، دهغه ارګانونو جوړول هم واجب او شرعی مکلفیت دی، کوم چه ددی ارګانونو نه بغیر دهغه اداء کول په مطلوبه شکل سره ممکن نه وی، او لکه علماء چه وایی، کله چه یو مقصد بغیر د معینی وسیلی داستعمال څخه ممکن نه وی، نو د همغی وسیلی پکارول هم واجب ګرځي او په دی ځای کې وسیله دمقصد حکم اخلی، اما دا مکلفیت په معین شخص پوری اړه نلری بلکه ټولنه په مجموعی شکل سره په هغه مکلفه ده.

همدارنګه دتعلیمی مؤسسات جوړول ترڅو دخلکو دژوندانه دمختلفو څانګو لپاره په کار پوه او متخصص افرادوروزي او ټولنی ته یې وړاندی کړي، او بیا داسی نظام او ترتیب جوړول تر څو ددی افرادو څخه په اعظمی شکل سره دهر چانه دخپل تخصص او توانمندی په اساس دټولنی دپرمختګ او هوساینی لپاره کار واخیستل شی، او همدارنګه دخلکو داساسی ضرورتونو دپوره کولو په خاطر زراعت او مالداری ته داسی وده ورکول چه دډوډی اساسی ضرورت پوره کړي، او ملت دلوږی نه پردیو ته لاس اوږد نه کړي، او همدارنګه دصنعت په برخه کې دټولنی دضرورتونو دپوره کولو او دملت دکفایت او ضرورت په انداز صنعتی توکې جوړول کوم چه دژوندانه په ټولو خواوو کې په کاریږي، دا ټول کفایي واجبات دی چه مقصد پکې دخلکو عامه منافع ساتل دی.

ددی ټولو کارونو کول دینی واجب دی او شرعی مکلفیت دی چه په ټول امت باندی دهغه اداء کول لازمی دی، که څه هم دا هر یو کار په انفرادی شکل سره دهر فرد په حق کې واجب ندی، لکه دیو فرد په هکله دزراعت دنده، هغه کولای شی زراعت وکړي او یایې هم ونه کړي، اما په مجموعی شکل سره امت مکلف دی چه دخپل ضرورت دپورته کولو په خاطر زراعت او کرنه وکړي او امت په دی هکله دپردیو دضرورت او احتیاج نه وباسی، له همدی خاطره دی چه فقهاء وایی چه یوکار کېدای شی دیو فرد په هکله مباح وی اما په مجموعی شکل سره هغه واجب وی.[5]

**دریم: دسیاست په ډګر کې کفايي واجبات او په هغه کې دښځې ونډه**

**الف: دقوي او امین حاکم انتخابول**

ټول فقهاء پدی اتفاق دی چه په مسلمانانو واجب ده چه دځان لپاره سیاسی مشر (چه هغه ته په اسلامی ادبیاتو کې خلیفه او یاهم امیرالمؤمنین وایی) انتخاب کړي[6]، او فقهاء دهغه دانتخاب په هکله دوه اساسی صفتونه ( امانت او توامندی) دشرط په حیث مطرح کوی، خو دا وجوب یو معین فرد ته متوجه ندی بلکه ټوله ټولنه په دی مکلفه ده چه دځان لپاره مشر انتخاب کړي ترڅو دهغوی په نیابت سره په خلکوکې اسلامی قوانین نافذ ګړي او دخلکو منافع وساتی او هغه ته وده ورکړي، نودا مکلفیت کفایی مکلفیت دی، او هغه وخت دا مکلفیت دخلکو داوږ څخه ساقطیږي چه هغوی دخپل ځان لپاره وړ خلیفه، مشر او امیر انتخاب کړي، او بیا په همیشنی او

---

[1] پدی هکله وګوره: محمد الغزالي، مشكلات في طريق الحياة الإسلامية، ص: 16.

[2] دالنساء سورت، ۱۴۱ آیت.

[3] دکفايي واجباتو دتعریف په هکله وګوره: جمال الدين عبد الرحيم بن الحسن الإسنوي الشافعي، نهاية السول في شرح منهاج الأصول، 185/1،اوعلي بن عبد الكافي السبكي، او دهغه زوی تاج الدين عبد الوهاب بن على السبكي، الإبهاج في شرح المنهاج، 100/1 .

[4] دعینی واجب دتعریف په هکله وګوره: حسن محمد مقبول الأهدل، أصول الفقه الإسلامي، ص: 79.

[5] په کفايي او عینی واجباتو کې دشرعی مقاصدو په هکله وګوره: إبراهيم بن موسى اللخمي الشاطبي، الموافقات في أصول الشريعة، 177/1، او عز الدين عبد العزيز بن عبد السلام، قواعد الأحكام في مصالح الأنام، 41/1.، او عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي، الأشباه والنظائر410/1.

[6] وګوره: عبود العسكری، اصول المعارضة السياسية فى الاسلام. ۱۹۹۷م اوله طبعه، دار النمير للنشر والتوزيع، دمشق، ص: ۵۳ -۵۷.

پرله پسې توګه دهغه داسې دقيقه څارنه وکړي، چه هغه په خپلو تصرفاتو کې دخلکو منافع وساتي او دهغـه څخـه کـوږ نشـي[1]، او دا کـار يـو سياسـي فعاليـت دی چـې دټولنې ټول افراد بايد په هغه کې ونډه واخلي، داکار نفلي او ياهم تطوعی کار ندی او نه هم مباح کار دی چه په نه کولو يی انسان ته کومه ملامتی نـه متوجـه کـېږي، بلکه داکار شرعی واجب چه که ټولنه په هغه کې سستی وکړي او دځان لپاره امير او مشر انتخاب نه کړي په ټولنه کې ګډوډي راځي، او دخلکو مال او ځان په خطر کې لوېږي، او که يو نفر انتخاب کړي خو هغه امانتدار نه وی اخلاص، صداقت او تقوی ونه لری نو دملي او ټولنيزی شتمنی څخه به ناوړه استفاده وکړي، او دهغه پـه توزيـع کې به عدالت رعايت نه کړي، او که هغه علم او اداری توانمندی ونه لری نو دهغه دبی کفايتي له وجهي به دملت منافع ضايع شي، له دی امله په ملت باندی دا واجب ده چه دوی دشرايطو برابر مشر انتخاب کړي، او که دا کار ونه کړي نو دوی به ټول يو دشرعی واجب په اداء کولو کې سستی کړی وی او دوی الله پاک ته مسؤول دی او ګنهکار دی، او دهغوی دګنهکاريدو تر خوا په دنيا کې هم خلکو ته او ددوی منافعو ته ددی ګناه ضرر رسيږي، او دامکلفيت دټولنې دټولـو افـرادو پـه هکلـه دی او پـه شريعت کې هيڅ داسې دليل نشته چه ښځې له دی مکلفيت څخه مستثنی وی، او ښځه په عمومی مکلفيت کې دناريـنـه سره پـه کفـايي واجبـاتو کـې دخپـل تـوان او طاقت په اندازه شامله ده.

نو داکار يو سياسی فعاليت چه دهغه په اړه فعاليتونه غربی ادبيات دسياسی حقوقو په نوم بولي ولی په اسلامی ادبياتو کې(لکه څنګه مو چه مخکې وويل) بهتر ده چه سياسی مکلفيتونه ورته ووايو، چه دناريـنه او ښځو دواړه دا مکلفيت لری، پدی هکله دعايشه رضی الله عنها توصيه او نصيحت راته ياد شو چـه دعمـر رضـی الله عنـه نـه يی دوفات دشيبو څخه دمخه ويلي وو چه اسلامی امت دګډوډي په حال کې مه پريږده او دهغوی لپاره مشر وټاکه.

**ب: دحکومت په تصرفاتو دملی نظارت او څارنې دنظام رامينځ ته کول**

اسلامی شريعت چه د قوی او امين مشر په انتخابولو امر کړي، هغه ددی په خاطر چه وتوانيدلای شی سمه حکومتداری رامينځ ته کړي، او دخلکو دخادم حکومـت په حيث عرض  اندام وکړي، دخلکو منافع وساتي او فرصتونه په خلکو کې په عادلانه شکل سره تقسيم کړي، دداسی حکومتداری رامينځ ته کول يو شرعی مکلفيـت دی او  امت دهغه په اداء کولو او عملی کولو باندی مکلف دی، او له همدی ځايه ده چه بايد داسی ارګانونـه او مؤسسـات جـوړ شـي چـه دسـمی او راشـدی حکومـت داری دموجوديت ضمانت ورکړلای شي.

ديوسم او مسؤول پارلمان (دخلکو دنماينده مجلس) موجوديت تر ډيره حده پوری دښی حکومتداری ضمانت په انسانی ټولنه کـې کـولای شـي، دنـورو مـدنی هغـه ټولنو موجوديت،  کومی چه دعامه منافعو په هکله دحکومت دتصرفاتو نظارت او څارنه وکړي، هغه هم دښی حکومتـداری دضـمانتونو دفعـالولو سره کمـک کـوی، او کـه چيری داسی څرګند شي چه حکومت په خپلو تصرفاتو کې دملت منافع نه ساتي نو همدا ملی او تولنيز  نهادونه داسی قـانونی فشـارونه ايجـادولی شـي چـه دحکومـت دناسمو تصرفاتو مخه ونيسي.

ددې لپاره چه مدنی ټولنی خپله وظيفه دحکومت دڅارنې په هکله پـه سـم شـکل سره اداء کـړي، نـو دحکومـت د اداء او کـار کـرد دکچـې دمعلومولـو پـه خـاطر د تحقيقات مراکزو اهميت بايد له نظره ونه ايستل شي، تحقيقاتی مراکز دواقعيتونو دپيژندلو او دملت دضرورتونو دکچی او بيا دهغه ضرورتونـو دپورتـه کولـو لپـاره کـړنـی او عملونه په سم شکل سره پرتله کولای شي، او هغه بيا دامکاناتو او فرصتونو او موانعو په رڼا کې په سم شکل سره تحليلولای شي، او پـه دی تحليـل کـې نارسـيو او غلطـو فعاليتونو او تصرفاتو ته ګوته نيولی شي، چه دا کار دسمی او راشده حکومتداری دموجوديت سره کمک کوی، او ددی ټولو وسـايلو پـه کـار اچـول دسـمی حکومتـداری دراوستلو په خاطر يو شرعی واجب دی چه دهغه اداء کول په کوم خاص فرد پوری اړه نلری بلکه ټولنه په مجموع کې په هغه مکلفه دی، چه نارينه او ښځې ټول په هغـه کې شاملی دی، او دا فعاليت په ټولنه کې ډيرو فعاليتونو ته شامليږي چه ټول يی دسياسی فعاليتونو په چوکاټ کې ځای نيسي.

**ج: دحق په استعمال کې سلبی تعسف او کفايي واجبات:** دحق په استعمال کې تعسف په حقـوقی او قـانونی اصـطلاح کـې دغيـر مشروع هـدف لپـاره دحـق داستعمال په معنی راغلی، او ياهم دحق استعمالول پداسی شکل سره چه نورو ته دهغه څخه ضرر ورسيږي، او ياهم هغه فايده چه دحـق څښـتـن تـه رسـيږی دهغـه ضرر پرتله ډيره کمه وی چه بل چاته يی دحق داستعمالولو په نتيجه کې رسوی، او ياهم داچه دحق په موجب سره نور څوک دخپلـو مصـالحو دلاس تـه راوړلـو نـه منـع کـړي پداسی حال کې دهغه مصالحو ترلاسه کول دحق څښتن ته هيڅ ضرر هم نه رسوی، چه داټول انوع دفعل او کړلو په جانب کې دی، اما سلبی تعسف دسياسـت پـه ډګـر کې دهغه واجباتو او مکلفيتونو پرينبودلو او نه عملی کولو ته وايی دی چه دهغه په نتيجه کې دټولنی مشروع او روا مصالحو ته ضرر او تاوان ورسيږي.[2]

اما اسلامی شريعت چه حقوقو ته دمکلفيتونو سره پيوست ورکوی، دحقوقو داستعمال په هکله سلبی او منفی تعسف او ناوړه شدت له مينځه وړي، او په انسان کې ايجابی او مثبت روش او چلند ايجادوی، او لدی امله چه دحق استعمالول هغه ته په معينه مرحله کې څه معين منفعت نه جلبوی تر دی بهانه لاندی ټولنی ته دحقوقو دنه استعمال په واسطه ضرر نه رسوی، چه البته دا هغه قانونی او حقوقی مثبت ټکي دی چه په اسلامی تشريعاتو کې چه دحقوقو استعمال دمکلفيتونو په بڼه کې مطرح کوی، پروت دی، او دا مطلب يو دهغه ډيرو ټکو څخه دی چه داسلامی تشـريعاتو او قانونګـذاريو ښـيګڼی نظـر غربـی تشريـعاتو تـه ٍثـابتوی، او دا ثـابتوی چـه اسـلامی تشريعات په ټولنه باندی دقانونی قاعدی مختلفو آثارو ته متوجه دی او هغه رنګه يی هغه تنظيم کړی دی چه دټولنی هراړخيزی منـافع تـأمينوی، او داسـی نـه دی لکـه غربی تشريعاتی نظام چه دقضيی يو طرف ته متوجه کېږی اما بل طرف آثار يی دغربی قانونګذار دسترګو نه غايب وی، چه دا امر په مجموع کې داسلامی شريعت کمال او هراړخيز توب ثابتوی.

[1] له همدی فقهي قاعده رامينځ ته شوی چه وايي( تصرف الامام منوط بالمصلحة) ترجمه: دامام دتصرف صحت دمصلحت دمتحقق کېدو سره تړلی دی. وګوره په دی هکله: مصطفی أحمد الزرقاء ، المدخل الفقهي العام، دار الفكر، دمشق ط/10، 1968م.

[2] وګوره: محمد فتحی درينی، نظرية التعسف فی استخدام الحق، ۱۹۸۷م دار البشير، عمان.

**پنځم مطلب**

**په صدر اسلام کې دښځو دسیاسي مواقفو اودریځونو نمونې او دسیاسي پوهاوې د لوړتیا تشریعي ضمانتونه**

**اول: په صدر اسلام کې دښځو دسیاسي موقفونو نمونې**

موږ په مطالبو کې کله ناکله په صدر اسلام کې دمختلفو سیاسی فعالیتونو نمونې ذکر کړې دی، خو دلته دلږ څه زیات وضاحت لپاره دوه نوری نمونی دسیاسی فعالیت په هکله ذکر کوم چه هغه دابوبکر صدیق رضی الله ددوه لورگانو دوه مواقف دی، کوم چه یوه یې دمسلمانانو مور ده (ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها) او بله دهغې مشره خور ده کومه چه دزبیر بن العوام میرمن وه او دعبدالله بن زبیر موره وه، هغه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دهجرت په وخت یې رسول الله صلی الله علیه وسلم او خپل پلار (ابوبکر رضی الله عنه ته ډوډۍ رسوله) چه هغه کار هم په خپل ذات کې یو سیاسی فعالیت وو، دلته دغه دوه نمونی دبیلگی په شکل سره یادوم، ترڅو دنن ورځ ښځې په دی دوو قیادی او رهبرو ښځو پسې اقتداء وکړی، او دعادتونو او رواجونو کړی هغوی داسلام دتمدنی حرکت دغوښتنو نه منع نه کړی.

**الف: دعایشه رضی الله عنها شرکت دجمل په واقعه کې**

عایشه رضی الله عنها د علی ابن ابی طالب دخلافت په وخت کې دځینو اصحابو (زبیر بن العوام او طلحه بن عبیدالله) په ملگرتیا دعثمان ابن عفان رضی الله عنه دقاتلانو دقصاص غوښتنه وکړه او دبصری په طرف باندی یې حرکت وکړ، تر څو دوی دهغه ځای څخه دعثمان رضی الله عنه دقاتلانو دقصاص غوښتنه وکوی، او په علی رضی الله عنه باندی پدی هکله فشار وارد کړی، اما ددی حرکت په نتیجه کې ددواړو صفونو تر مینځ جنگ ونښت چه ډیر صحابه په هغه کې شهیدان شول، زبیر بن العوام هم په هغه کې شهید شو او طلحه بن عبیدالله هم په هغه کې شهید شو.

دعایشه رضی الله عنها دا موقف پدی دلالت کوی چه هغه لوړه سیاسی پوهه درلوده او دمسلمانانو دامور په اړه یی مثبت فکر کاوه او دهغه په هکله یی دمسؤولیت احساس کاوه، چه دعایشه رضی الله عنها دی تصرف په دی دلالت کوی چه دښځې شرکت په سیاسی قضایاوو کې دصحابه وو په وخت کې یو منل شی امر وو، اگر چه دعایشه رضی الله عنها مخالفت دعلی رضی الله په مقابل کې دډیرو علماو له طرفه منل شوی ندی، او هغه ددی په خاطر چه عایشه رضی الله عنها پدی موقف کې په صواب باندی نه وه، او عایشه رضی الله عنها خپله هم ددی وتلو نه پښیمانه وه، او ډیر خلک خو چه ددی حادثې په عمق باندی نه پوهیږی داسی استدلال کوی چه عایشه رضی الله عنها چه خپله ددی موقف نه پښیمانه وه، نو څرنگه دهغې په موقف باندی دښځو لپاره په سیاسی فعالیت کې دشرکت په مشروعیت باندی استدلال کوو، اما حقیقت خو دادی چه عایشه رضی الله عنها پدی پښیمانه نه وه چه هغه ولی په سیاسی فعالیت کې شرکت وکړ، بلکې هغې دا فعالیت ددین او خپل شخصیت جزء بللو، بلکه هغه په خپل دی اجتهادی موقف کې پښیمانه وه، چه دی هغې په نتیجه کې ډیر مسلمانان په دوو طرفونو کې شهیدان شول، او بل درسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیث ورپه یاد شو، په کوم کې چه دهغې نه دعایشه رضی الله عنها په دی موقف کې ناصوابی معلومیږی.[1]

**ب: داسماء بنت ابی بکر دحق خبره دظالم حاکم (حجاج بن یوسف) په مقابل کې**

امام بیهقی له طارق ابن شهاب نه روایت کوی چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چه یا رسول الله کوم جهاد بهتر دی، هغه وویل: دحق کلمه دظالم سلطان په مخ کې.[2] او دظالم سلطان په مقابل کې حق خبره کول په نن ورځ اصطلاحاتو کې پوره سیاسی عمل گڼل کېږی، چه داکار اسماء بنت ابوبکر دحجاج بن یوسف په مقابله کې وکړ، حجاج بن یوسف کله چه عبدالله بن زبیر په شهادت ورساوه دهغه مور اسماء بنت ابوبکر ته راغی او ورته یې وویل: ودی لیدل چه دالله ددښمن سره مې څه وکړل؟ (دحجاج مطلب دهغه دزوی عبدالله بن زبیر وژل وو) اسماء بنت ابوبکر ورته وویل: ما ولیدل چه تا دهغه دنیا خرابه کړه او هغه ستا آخرت دربادی خراب کړ، ما واوریدل چه تا هغه ته ویلی: ای دذات النطاقین زویه! په الله دی زما قسم وی چه زه ذات النطاقین یم، په یو نطاق (ټوټه درخت) باندی می درسول الله صلی الله علیه وسلم او دابوبکر ډوډۍ نیوله، او بل نطاق خو هغه دی چه ښځه هغه ته همیشه ضرورت لری، داسی روایت دی چه په ثقیف کې یو دوراغجن او یو هلاک کوونکې شته، درواغجن خو مو ولید[3] اما هلاک کوونکې فکر کوم چه تاسی یې، نو بیا ځنې پورته شوه او بیا ورته راونه گرځیده.[4]

**دوهم: په اسلامی شریعت کې د ښځو دسیاسی پوهاوی دلوړتیا هڅه**

داسلام مبارک دین دښځو مشارکت ته په مختلفو ساحاتو دژوندانه کې پوره توجه کړی ده، جومات ته دېنځه وخت لمانځه لپاره حاضریدل، دجمعی لمونځ کول او دعید لمانځه ته حاضریدل، دا ټول هغه وسایل دی چه دعبادتی او دتزکیوی مقاصدو تر څنگ اسلام دښځې دسیاسی شعور او پوهاوی دلوړتیا په خاطر ښځه دهغه په حضور باندی مکلفه کړی ده، او جومات خو هغه دمسلمانانو دټولیدو ورځنی ځای دی چه دهغې له لاری مسلمان داسلامی ټولنې دحال څخه خبریږی، او امام دجمعې په ورځ مسلمانان هغه څه ته متوجه کوی چه د اسلامی ټولنې لپاره پکار وی او یاهم هغه مهم حوادث خلکو ته شرح کوی کوم چه دهفتې په جریان کې په ټولنه کې او یا هم دټولنې په اړه واقع شوی وی، او ددی په خاطر چه ښځو دټولنې دحرکت څخه په فاصله کې نوی،نورسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی دی چه ښځې باید څوک دجوماتو څخه منع نه کړی، تر څو هغه دټولنې دحرکت او په هغه باندی دپوهې څخه لیری پاتې نه شی، او له هغه خیر او ښیگڼو څخه محرومه نه شی کوم چه په جوماتو کې وجود لری، ځکه جومات خو داسلام له نظره او دخپل تاریخی موجودیت له نظره دعبادت، علم او سیاست روڼ مرکز دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (تاسی دالله وینځې دالله دمساجدو څخه مه منع کوی)[5] او رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دالله پیغمیر دی پوهیده چه کله به په امت کې داسی کسان پیدا شی چه هغوی به ددینداری تر عنوان لاندی او دفساد نه دمخنیوی تر عنوان لاندی بیا ښځه دټولنې دامور څخه منزوی کول وغواړی، او هغه به په کور کې داسی بندی کول وغواړی چه ددوه ځلو څخه زیات به دخپل کور څخه ونه وزی، یوځل دواده په ورځ چه دپلار دکور څخه دمیړه کورته ووزی او دوهم ځل کله چه وفات شی نو قبرته

---

[1] وگوره: یوسف قرضاوی، من فقه الدولة فی الاسلام، ص:۱۶۴.

[2] امام بیهقی، السنن الکبری، دحدیث شمیره:۷۸۳۴.

[3] هغه مختار بن ابی عبید ثقفی وو چه دنبوت دعوی یی وکړه او بیا دجنگ نه ورسته ووژل شو.

[4] دا حدیث امام مسلم داصحاب کرامو په فضایلو کې راوړی دی.

[5] دا حدیث امام مسلم په خپل صحیح کتاب کې راوړی دی، دحدیث شمیره: ۴۴۲.

دخپل کور څخه ووزي، او حقیقتاً په داسې ذهنیت باندې خلک اوس هم په ټولنه کې ډیر شته دي چه په اخلاص کې یې کېدای شي کمی نه وي، اما عملاً یې اسلامي دعوت ته ډیره صدمه رسولې ده..

دا پورته مطلب خو دپنځه وخته لمونځ په هکله او دجمعې دلمانځه دحضور په هکله وو، چه کېدای شي څوک ووایي چه دي که دسیاسي پوهاوي په هکله څه خبره نشته، خو دا خبره ددوه عیدونو په ورځ دعیدګاه میدان ته دحضور څخه په ځلانده توګه معلومیږي، دام عطیه رضی الله عنها نه روایت دی: ( موږ ته امر کېده چه دعید په ورځ عیدګاه ته لاړ شو، پیغله هم لاړه شي، حتی که ښځه دحیض په حالت کې وي هغه هم لاړه شي، دخلکو په شا کې ودریږي دهغوی سره تکبیرات زمزمه کړي، دهغوی سره دعا زمزمه کړي، او دهغې ورځې دبرکت او پاکې څخه برخمن شي)[1] دحفصه رضی الله عنها نه روایت دی چه دهغې خور درسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، چه که زموږ څخه کومه ښځه جلباب (څادر) ونه لري نو هغې ته اجازه شته چې عیدګاه ته حاضره نشي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل، هغه دې دخپلې خور سره په چادر کې پرده وکړي او لاړه دې شي، ترڅو دخیر نه او دمسلمانانو ددعانه محرومه نه شي.

دعید کلنی اجتماعي اجتماع ده چه په هغه کې دمسلمانانو د ژوندانه په مهمو او عامو مسایلو کې خبره کېږي، دهغې له لارې مسلمانان دخپلو امورو او مسایلو نه خبریږي، او خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کېږي، او له دې لارې مسلمانان سیاسي پوهاوي ترلاسه کوي او دټولنې دجریاناتو نه خبریږي، او دشرعي نصوصو تاکېد په دې باندې چه ښځې باید دې اجتماع ته حاضرې شي، ولو که حایض هم وي او یا خپل ټکرې ونه لري باید حاضره شي، او دا ټول په دې دلالت کوي، چه داسلام مبارک دین نه غواړي ښځه په ټولنه کې دټولنې دعمومي حرکت څخه منزوې شي، که چیرې دعید په ورځ دښځو دوتلو څخه تنها عید دلمانځه اداء کول وای، نو حایض ښځې ته به ددې اجتماع دحضور امر نه کېده، اما دا امر په داسې حال کې چه هغه لمونځ هم نه شي اداء کولای دسیاسي شعور دلوړتیا او دمسلمانانو دټولنې دعمومي خبر او برکت چه هماغه ټولنیزو مسؤولیتونو ته متوجه کېدل او ددعا دبرکت څخه مستفید کېدل دي، افاده کوي.

### دآخر خبره

ددې لیکنې په پای کې هغه خلاصه نتایج چه لاس ته مې راوړي په لاندې ټکو کې محترمو لوستونکو ته وړاندې کوم:

- دسیاست دډګر داصلاح لپاره کار کول او دهغه لپاره هڅه کول، دټولنې دپرمختګ لپاره ضروري عمل دی، او پرته د یوې سالمې اداري څخه چه دهیواد واک یې پلاس کې وي، ملت دترقی او پرمختګ په لورې حرکت نه شي کولای، او ددې ضرورت دپورته کولو په خاطر باید ښځې دنارینه وو تر خوا د راشدې او سالمې سیاسي اداري درامینځ ته کولو په خاطر خپل ټول کوشش دمختلفو لارو څخه ترسره کړي، او ددوی دتوانمندیو او طاقتونو څخه دټولنې دمتعددو خواوو دجوړښت په خاطر بایدکار واخیستل شي.
- دسیاسي اصلاح لپاره کار کول، او پدې هکله سیاسي فعالیت کول دټول امت مکلفیت دی چه فقهاء هغه ته کفایي واجبات وایي، او ښځه پدې عمومي مکلفیت کې شامله ده، او په شریعت کې هیڅ داسې دلیل نه شته چه ښځه پدې ساحه کې دعمومي مکلفیت څخه استثناء کړي.
- دداسې مؤسساتو او ارګانونو جوړول ډیر ضروري دي، چه دهغې لارې ښځې وکولای شي دراشده حکومتدارۍ درامینځ ته کېدو لپاره هڅې وکړي، او دهغې لارې وکولای شي داسې نوع دفشار واردولو لارې جوړې کړي چه حکومتدارۍ خپلو وظایفو ته متوجه کړي، او دکړې لارې نه یې سمې ته راولي، او داکار داسلامې امت ستراتیژیکو او تمدنی اهدافو ته درسیدو په خاطر ضروري دی، او بې له دې امت داستبداد، فردي انانیت او عقب ماندګۍ دحلقو څخه نشي وتلای.
- دسیاسي مکلفیتونو اصطلاح مناسبه او سمه اصطلاح ده، او دا اصطلاح دشرعي مقاصدو او دټولیزو مکلفیتونو دطبیعت سره سمون خوري، څګه دټولنیزو مکلفیتونو په عملي کېدو پورې دامت نهضت او پرمختګ تړلی دی، اما دسیاسي حقوقو اصطلاح (کومه چه په غربي سیاسي اصطلاحاتو کې یې رواج موندلی) سلبي موقف رامینځ ته کړي، او دی کار دامت عامه منافعو ته ډیر ضرر رسولی دی.
- په صدر اسلام کې دښځې دسیاسي مشارکت ډیرې عالي نمونې وجود لري، هغوی په اسلام باندې ایمان راوړ او دجاهلیت دژوندانه دمنهج دبدلیدو لپاره یې ملا وتړله، دالهي منهج دحاکمیت لپاره یې هڅې وکړې په داسې حالې کې چه دمشرکېنو دسخت ګواښ سره مخ وو، دالله په لاره کې یې هجرت وکړ، دجهاد په مختلفو برخو کې یې شرکت وکړ، او دحکومتدارۍ خواته یې توجه وکړه او په سیاسي اموراتو کې یې دمشورو ورکولو، انتقاد کول، دحاکم په مخکې دحق ویلو دنده ترسره کړه.
- دامت دنهضت او ترقی دغوښتنو څخه داده چه دټولنې ټول عناصر(نارینه او ښځې) ټول دټولنې دجوړیدو او اصلاح طرف ته حرکت وکړي، خپلې ګوتې په نواقصو کېږدي، دټولنې دعامه امورو په هکله دکړو او ناوړه تصرفاتو دسمولو کوشش او هڅه وکړي، چه ددې کوششونو په سر کې دسیاسي اصلاح مسؤولیت دی، چه هغه یو نفلي کار ندی بلکه دا کار دکفایي واجباتو څخه شمیرل کېږي چه دټول امت په اوږو باندې اینښودل شوی دی، او ښځه پدې دنده کې فعاله ونډه اخیستلی شي، او دهغې په غیاب سره دسیاسي اصلاح او سمون لپاره کوششونه تضعیف او کمزوري کېږي.
- په اسلامي ټولنه کې دښځې دسیاسي مشارکت دزمینو دنه ایجاد په صورت کې به داسلام دښمنان دښځې دآزادۍ او دښځې دحقوقو تر عنوان لاندې دټولنې دا مهم قشر په داسې ناروا فعالتیونو کې بسیج او منظم کړي، چه هغه به دامت او هیواد دستراتیژیکو منافعو سره په ټکرکې وي، او ځینې مغرضې حلقې به په دې هکله پوره فعالې شي.

---

[1] دا حدیث امام بخاري په خپل صحیح کې روایت کړی دی، دحدیث شمیره: ۹۲۸.

**دمنابعو فهرس**


1. قرآنکریم.
2. احمد عبدالله عوضی، په اسلامی شریعت کې درعیت سیاسی حقوق او دوضعی نظامونو سره دهغه مقایسة (الحقوق السیاسیه للرعیة فی الشریعة الاسلامیة مقارنا بالنظم الوضعیة) په مقایسوی فقه کې دماستری رساله، چه داحمد علی ازرق تر سرپرستی لاندی لکېل شوی چه په ۱۹۹۴م کال کې دامدرمان اسلامی پوهنتون ته وړاندی شوی.
3. إسماعيل بن كثير القرشي. البداية والنهاية، مكتبة المعارف، بيروت.
4. اسماء بنت محمد احمد زیاده ( دور المرأة السیاسی فی عهد النبی والخلفاء الراشدین) دار السلام، اوله طبعه، ۲۰۰۱م.
5. سليمان بن موسى الأندلسي، الاكتفاء بما تضمنه من مغازي رسول الله والثلاثة الخلفاء، تحقيق د. محمد كمال الدين، عالم الكتب، بيروت، 1997هـ، الطبعة الأولى.
6. عبدالحلیم ابو شقه، دښځی آزادی درسالت په عصر کې (تحریر المرأة فی عصر الرسالة) دوم جزء ( دښځی مشارکت په اجتماعی ژوندانه کې) دار القلم، اوله طبعه.
7. عبدالرحمن بن علی بن جوزی، دعمر بن خطاب سیرت (سیرة عمر بن الخطاب) دار الکتب العلمیة، بیروت.
8. عبدالرحمن عبدالخالق، شوری داسلامی حکومت تر سیوری لاندی( الشوری فی ظل الحکم الاسلامی) ۱۹۷۵م سلفی مطبعه، کویت
9. عبدالرزاق سنهوری، اصول القانون، منشأ معارف، اسکندریة، مصر.
10. عبدالوهاب خلاف، السیاسة الشرعیة، ۱۹۷۷م دار الأنصار.
11. عبد الملك بن هشام بن أيوب، السيرة النبوية، تحقيقعبدالرؤوف سعد، دار الجيل، بيروت، الطبعة الأولى، 1411هـ.
12. عبود العسکری، اصول المعارضة السیاسیة فی الاسلام. ۱۹۹۷م اوله طبعه، دار النمیر للنشر والتوزیع، دمشق.
13. علی ابن احمد ابن حزم ظاهری، الاحکام فی اصول الاحکام، دار الآفاق الجدیدة.
14. محمد بن إسماعيل البخاري، أبو عبدالله ت 256هـ الجامع الصحيح، تحقيق مصطفى ديب البغا، دار ابن كثير، بيروت ،ط/1 ، 1407هـ 1987م.
15. محمد بن أبي بكر بن قيم الجوزية شمس الدين ت 751هـ أعلام الموقعين عن رب العالمين ،دار الفكر ، بيروت لبنان ، 1997م.
16. محمد بن جرير الطبري، تاريخ الأمم والملوك، دار الكتب العلمية، بيروت، 1407هـ الطبعة الأولى.
17. محمد بن حبّان بن أحمد التميمي البستي أبوحاتم ت 354هـ ، صحيح ابن حبّان بترتيب ابن بلبان ، مؤسسة الرسالة ، بيروت، ط/1 ، 1414هـ 1993م ، تحقيق شعيب الأرنؤوط .
18. محمد بن عيسى الترمذي السلمي أبوعيسى ت 279هـ الجامع الصحيح ، تحقيق احمد محمد شاكروآخرون ،دار إحياء التراث العربي ، بيروت.
19. محمد فتحی درینی، نظریة التعسف فی استخدام الحق، ۱۹۸۷م دار البشیر، عمان.
20. محمد بن محمد الغزالي (505هـ) المستصفى في أصول الفقه ، دار الكتب العلمية ، بيروت الطبعة الأولى 1413هـ بتحقيق محمد بن عبدالسلام عبد الكافي.
21. مصطفى أحمد الزرقاء ، المدخل الفقهي العام، دار الفكر، دمشق ط/10 ، 1968م.عبدالحق الاشبیلی، الأحکام الشرعیة الکبری، ۲۰۰۱م ،مکتبة الرشد، عربستان سعودی.
22. یوسف قرضاوی، من فقه الدولة فی الاسلام، دریمه طبعه، ۲۰۰۱م، دار الشروق، مصر.


**سوالونه**

1. سیاست، حقوق او سیاسی حقونه تعریف کړی.
2. سیاسی حقوق، حقوق دی او که مکلفیتونه؟ دغه مطلب پوره شرح کړی.
3. دسیاسی حقوقو (مکلفیتونو) بنی او شکلونه واضح کړی.
4. امر په معروف او نهی له منکر څخه آیا دسیاسی فعالیت یوه برخه ده؟ په دی هکله معلومات ولیکی، او بیان کړی چه ښځه آیا په دی هکله دینی مکلفیت لری؟
5. په معاصره ټولنه کې دامر بالمعروف او نهي له منكر دوظيفې د اداء كولو مؤثری لاری او وسایل بیان کړی.
6. په صدر اسلام کې دښځو دسیاسي فعالیت نمونې بیان کړی.
7. شوری تعریف کړی، او دا بیان کړی چه آیا ښځه دشوری اهلیت لری؟ په صدر اسلام کی دښځی سره دمشوری څو نمونی ذکر کړی.
8. کفایی مکلفیتونه تعریف تعریف کړی، په هغه کی شرعی مقاصد بیان کړی، او دسیاست په برخه کی کفایی مکلفیتونه کوم دی؟ هغه شرح کړی.
9. دغربی او اسلامی فکر تر مینځ دسیاسی حقوقو دمفهوم په هکله توپیرونه بیان کړی، او ولیکی چه دا دوه رنګه مفهوم دټولنی په وضعیت باندی څه تأثیر پریږدی؟
10. کومه اصطلاح غوره ده؟ (سیاسی حقوق) او (سیاسی مکلفیتونه) په تفصیل سره دا بیان کړی.
11. که چیری ښځې ته دسیاسی مکلفیتونو د اداء کولو زمینه جوړه نه شی، په ټولنه به څه تأثیر پریږدی؟ په تفصیل سره بیان کړی.